

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قیام الدین «خادم»

دپښتو ټولنې ددائرة المعارف دترجمې دڅانګې مدیر

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسی ناري وهی رحمانه !    دبهار گـلونه شویدی که نه دی ؟

«رحمان»

* * *

دسوندك موندك سپلی اخری کیښې    په بلبلو زېری وکړه : بیا بهاردی

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟
دبـلـبل یا دبو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهی ګلونه

هر طرف ته نو بهار دی غوړېدلی
ستړګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلی ګلونه چه د ښاغلی خادم په زیار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندی کېږی، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نیو شاعرانو د زړه په وینو روزلی شوی دی.

ښنګه چه تراوسه پوری د پښتو ژبی په ادبیاتو کښی داسی یو جامع منتخبات نه و، او ښاغلی خادم (چه د پښتو یو پیاوړی ادیب دی) په دې کارګوتی پوری کړی او بریالی شوی دی، نو پښتو ټولنه داخپله وظیفه ګڼی چه د دی فاضل د ادستایلو وړ خدمت وستایی او په دې انتخاب ده ته تبریک ووایی او هم په دې ګلونو سره د هغو پردیسانو روح ښاد اویاد کړی چه د وی به د خوازه وطن په بیلتون کښی وېل:

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدایه غواړی چه داسی ډیر آثار پښتنو ته وړاندی کړی.

(عبد الرؤف «بینوا»)
د پښتو ټولنی عمومی مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهديه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښي زدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګلانو مين دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛دزړه وينی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

داوې څښتن حمداوثنا وايو . او دده په هغهٔ استاځي چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل او ولادئې، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو او پښتو نولی ) په خدمت کښې «چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً دګران ټولواك اعلیحضرت محمدظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده »
خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو، یعنی په کوم وخت کښې دپښتو خدمتګارانو زیات آثارو لیکل؛ چه لنډ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپ پېږي او دذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږي .

یوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهي ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږي ، دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره مې تر ې دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول اوترتیب کښې دنورو ژبو دیوې ، انتخا با تو ته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ اوهغسې مې د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه دتهجی تورو یادر دیف او قافیې په لحا ظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ور کړی شوی دی ، نوهر خومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره دژوند او زندګۍ داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلا سیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هرباب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځا نته ځانته عنوا نونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شا عرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې توله ژوی په ځاری کښې
د لته دی د غر و لمنې زموږ کنږدی دی پکښې پلنې
داو ګړی دېر کړی خدا یه !
لویه خدایه ، لویه خدا یه !

دلته لنږ زموږ اور بل دی وړه کور ګی دی،ووړ بورجل دی
مینه ستا کښې مو نږ مېشته یو د بل چا په مله تله نه یو
هسك اومځکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تا ده
دا یا لنه ستا ده خدا یه !
لویه خدایه ، لویه خدا یه !

« بیت بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غروهم په دښتو کښې په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې یاد ویر ژلیو په شپېلو کښې
تول ستاد یاد ناري سوري دی!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بیدیا دی دبر بڼ خواته په خندا دی
ترنك چه خړدی په ژړا دی دا تول اغېز د مینې ستا دی
توله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږ میه تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پر تمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د ا پـلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسك آسمان ، مېشته : دېره ، ځاری : عجز ، جنډی : ګل ، ترنك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونیږی    دړوند وږمې پـکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا ګرځیږی    ستړ ګی لیدو ته یې هیښیږی
لویه خاوندهٔ دا ټوله ته یې
ټل دنړی په ښـکـلیدو یې

خاونده! ښـکلی ستاجمال دی    ښـکـاره یې لوریه لور کمال دی
کهورځ کهشپه کهپیری کال دی    ستادقدرت کـمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر نما ده
دلته چه جوړه تما شا ده

زړهمې داستا دمینی کوردی    سوی دعشق پهسوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی    بیلهدې هیڅ دیورک یې پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نهوی دغه نور بر باد دی

پهغرو کښې ستادعشق شپیلکی دی    ددې نړی په عشق سمی دی
کهغټ که ووړ کهپنډ نری دی    ستا د جمال ځری هر شی دی
چهپردنیامې ستر ګی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسک نه مځـکه وه تورتمۇ    تیا ره خپره وه ټول عدم ۇ
نه دا ابلیس نه ئی آدم ۇ    ستا د جمال سو چه پر تم ۇ
چهشوښـکـاره ښـکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یې ر نما شوه

زهچهخر ګند پردې دنیاشوم    د ښـکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم    له خپلی ستـی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګړیو ، ولې «متی» ژاړی    سورې یې اوری غاړې غاړی
څهغواړی، څهوایی، څه باړی    خپل تون او کورو کلی غواړی
چونهی چه بیل شی نیمه خواشی
ټل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هیښ : حیران ۰ تون : ځای ۰ چونهی : بلبل ۰ بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي ټزموی یه ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی وچا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي ښکلیو
اضطرا ب د حرص مي کړي له زړه گی لري
که مي نه فاشوي سرزید و عمرته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپوته

چه خپل بر گ یه آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی یه چشمه د آفتا ب ولی
چه کباب یي یه گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یي و دیدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو یي زما نصیب لکه لاله کړه

یه اوبو کښي یي د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یي مځکي سردی لگولی

الله مي رب د ی زه یي مربوب یم
غرق په اوبو کښي کله اوبه وینی

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما یه چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پر یوځی
چه کشور د افغانا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

یه دااور کښي دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښي د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیا ز را
له دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جها ز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحرپشان درست عمرسپین دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو یه دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی یکښي اورلره مکان دی
هم یي زوړند په رکوع سره آسماندی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب ناخوب یم
نعمت یي نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر یي عمریوزمان کړي !
د فلك یه څېرمي توره د زبان کړی !
دهربیت مصرع مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه درحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

(۱) په اکثرو نسخو کښي د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ نتړیي یه معنی نیوهیږو «خادم»

روغی گلونه (٥٢٥) ب سردار محمد ح سراج الدین : ر محمد الامین : ن محمد نعیم : ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ – ۸ – ۲۰ – ع

الهي د مينې درد را          کرم دل آهو نه سردرا
خلاص کړه ما له بې دردۍ          له دې هسې دلسردۍ
زړه په شان د غنچې را کړه          آتشي زما مينا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر چا چه حق یاد نشي ناتمام دی          پر کاغذ اول دده پښام ... قلم ژده

«دوات لوانی»

## ب : داستاځي په مینه

که رښا ده پیروی د محمد ده          گنې نشته په جهان بله رښا
«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر گې چه دزړه مې پرې بیناشوې          یم پیدین د محمد آخر زمان خوښ
«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدي جهانه لاړه          نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا
«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ          چه مختارؤخود په ستورو کښې مهتاب
«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته          شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار
«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه          نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا
«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیا تر دنیا تیر شو          محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ گرځم دا زیر رخسار له خلقو          لکه زر چه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا مو ندلی          کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم          برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی          داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سربښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سړی بېدار کاندي له خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار نه دی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نه دی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي دسروشونډوشیرینی وی
درحمان په عاشقی کښې سترګې وشوې

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
څوک چه وایی عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی

کاردستر ګو به څوک څرنګ په ړندهانکا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کیښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی

چه دیار له داغه آه کاهغه ګرم دی
«خوشحال خټک»

زه تر عشق جار ښزم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دپاره تفحص رایسی مکړه

واړه عشق یکسار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پرې نه پوهیږم عشق یو څه سوزو ګداز دی
پلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحال خټک »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې لری غلا
« خوشحال خټک »

ځینی هوس کامینه په باغ لری
داد واړه ګرو هه بوالهوسان دی

څوک می پسر ستړه حب دا یاغ لری
عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر خټک »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې

دخپل ځان په سودو زیان نه یم هر ګز
« عبد الحمید مهمند »

که هرڅومي تندتېزه توسن دعقل

عاقبت شوپه دنبال د مینی پاتی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کافی دی

نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان خټک »

عاشق ګرم او شوقی وی
چه دعشق په لاره درومی

زاهد سوړ بی حمیته
خالی نه دی له تهمته
« دولت لوانی »

خام خاطر مي مشوش و په هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متين شو

«دولت لوانی»

معرفت څخني پيدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شيدا شو
دعرب په مينه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی
ودرياب ته ځی که سيل له هر جا پاڅی

« مرزا حنان»

په هرداغ می دخپل زړه هسی باوردی
چه په مرګ به راته شمع شي په گور کښې

« عبدالحميد مهمند»

که شهيد نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

« عبدا لعظيم را نيزی »

دسيماب په شان په لاس کښې نيوی نه شم
عشق را هسی گرم هم نرم هم لطيف
آئينې غو ندی هر ولی هر نا ولی
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکليف

« شمس الدين کاکړ »

هر يو زړه چه شي پيدا غه پکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه باطل دی

« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې
په سراب دځان مشغول کړ ، له دريابه
هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
کله کېږی په لښکرو په افواج

« خواجه محمد بنګښ »

جريده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بي عشقه
بی رفيقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه بيلتون ياد کړم په څپردادو فرياد کړم
څکړم چاو ته فرياد کړم ، نيکخواه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وينی به تل څښمه
څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد يدا خپل رزق يم ، مبرا په زړه له فسق يم
واړه سرتر پا په عشق يم ، يو گناه نه لرم بی عشقه
دافقير دولت نفسی يم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مي بيامرزه عاصی يم ، گناه نه لرم بي عشقه

« دولت لوانی »

عشق دی دا که يو فساد دی نه پوهېږم
په جهان کښې چه داشورو شر پيداشه
بيا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پيدا شه

« عبدالرحمان مهمند »

باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد      ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادیږی      لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیراستاددی      چه به نه دی بل دا هسی پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی      چه څوك غوث کاندیء ، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه      نه انګور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی      چه په اور کښي بی وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کلستر کی په نم کښي      عشق را او ښود بحروبر په خپل حرم کښي
« عبدالرحمان مهمند »

دایو څرنګه ژوندون دی نه پوهیږم      خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهیږم
دپتنګ او د بلبل ترمینځ حیران یم      مخ دي اور دی که ګلګون دی نه پوهیږم
عشق په هسی رنګ مقام باندی قائم کړم      چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهیږم
د رحمان څهره یی زیړه زعفرانی کړه      خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهیږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودځر ګندوی لکه صبح په جهان کښي      هر ګیروان چه په یاریء کښي دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی      هرطالب چه په طلب کښي فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی      هر کلام چه له رحمانه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مي شو تالا په تور د عشق      لامي ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مي عاشقی کړه      پوهیدلی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښي      د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان د ی      لیز د عشق له لاری مه بیا یه بهر کج
« عبدالحمید مهمند »

په هرځای کښي ناست ولاړ زانګم له غمه      مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه ا      دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی      په دي ناوي نه جوړیږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنون نسخو کښي (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای ، ښه به وای «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله وُ مخلوقاتو بلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی — یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوری سرومال په عاشقی کښې — عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له دردہ خبر نه شول — براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا — یه اور سوزم یه رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راښخه نه ځی — واقعی د تورو ستر گو تور دیٔ دا
چه یی زه له بله غمه یه امان کړم — دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې — لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

باد ښکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی — یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره گران دی — دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی رهبر پیر کامل دی — عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره — خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله یوبلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی — هغه زړونه گویا کانې د بیدیا دی
« ملا جمعه »

# غزلیات

که خوك یار په جهان غواړې یار دی دا — یار دی دا که د جهان سنګار دی دا
خیال دز افویی زما له زړه چا پیر شو — که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جملو ؤ مخلو قا تو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کا رونو غوره کار دی دا
بل بلبل به د ګل توم ا خستی نه ؤ — که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا
بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي وګوری چه څه دی — که خوك شمار کاندی د عمر شمار دی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره — ستا په عشق کښي هسی خوار زار دی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چه یی و لید و ستا حسن بېحساب — له دي قصد ه تاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یي د نرګس ستر ګی څلور شو ي — غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستا په غم می دواړه ستر ګي سري ناغی شوي — که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي ښایی — وبښته څه طا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت به هله له خوبه ویښ شی — که ستر ګي ورته بورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه با ده در یا ی شور کا — د فلك په جام به مست کله مخمور کا
آرا سته وی تل محفل د خند ه ر و یو — زمانه به د ګل جام څر نګه نسکور کا
چه په لاس کښي یی تل چوب لکه شانه وی — بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا
د لتنګی کړم لکه ګل په خندا ور که — که می بل دصبا باد په خونه اور کا
چه په سر یی سبز آسمان زری دستار ژدی — عا قبت یی لکه شمع بیا سر تور کا
لکه ګل کړی ګران بار تر دا منځی — باد دي څه لکه غبار په کتف سور کا

« کاظم خان شیدا»

که ښکا ره زما خا طر د لاله داغ کا — په ژړا به ستر ګي سري د ګلو باغ کا
د حباب غوندي مي دك په آه سرد کړ — خوك زما په ګور به بل څر نګ چراغ کا
افرو خته یی وی محفل په شان دشمع — چه سوخته دبل په کار کښي خپل دماغ کا
د ګر دش نو بت یی هیڅ په ما دا نشی — که سا قی د ز ماني ، فلك ا یاغ کا
ز نګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری — دمګس په بال به څر نګ استفراغ کا

« کاظم خان شیدا»

چه می ولید ه ا برو په مخ دیار کږ — له تعظیمه ور ته زه شوم په تلوار کږ
کنږي ورو ځی کوږ با نه کنږي یی ز لفی — منا سب دی له کږو سره رفتار کږ
مار په دا سبب مد ام کږ فتا ری کا — چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کږ

هسې ژړا خلې اتر له همنشینه — په سبب د کنړې پښې شي سم بازار کج
چه معمارې اول خښته کړه کښیښوده دی — بیا ترسره پورې ځي هغه دیوار کج
ژړه وا چوې یار دار چار پای په ځا کښ — که یې یو ځله ځوك وځکوی مهار کج
هیڅ جواب د پیغام نه راځي دیار ره — پسې زما شوه توږلیمه په انتظار کج
« شمس الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپورې هسې کړ هجران تریخ — لکه حال وی پر بند یا نود زندان تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وه دی — پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم — پرموسم د گل اوقات شي دباغبان تریخ
مې حرام دی په مجلس کښ چه یار نه دی — بې له گله وبلبل ته شي بوستان تریخ
چه مې نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست — لاتر اوسه مې په هغه دی دهان تریخ
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینې دی — داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« مرزا حنان »

چه مې یار ولید په سینه د اغیار رگه — له غیرته مې لیمه شوه په خو نبار رگه
د غه حق د بلبلانو په جانب دی — خدای دنه کا مبتگیر کټ په لاله زار رگه
په امید د زلفو و نښتم په دام کښ — رو هیلې وم ساده دل په هندو یار رگه
د دیدن په گدائی کښې مې ننگ نه شي — د رویز گریم د بتانو په بازار رگه
د وفا د گلو بیا نه پکښې نشته — کاشکې نه وی زه ددهر په گلزار رگه
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم — چه په کلې په کوڅه شوم د خپل یار رگه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غې په مخ د گلعذار — که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
سپین رخسار یې په تور خط کښې هسې ښه شو — لکه ښه چه معنی وی په اشعار
زما نه به یې سپین مخ دا هسې تور کا — چه غرض اری د بل په کا رو بار
هر کارساز نن په خپل کار کښې درمانده دی — او به کله وهای شي گرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را خښه پووه — کور زما دصبر دې سیلاب را خښه پووه
رنگ په رنگ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه — زړه مې په یوه نفس احباب را خښه پووه
نه مې را برسېره کړ گوهر دعشق له بحره — زیات یې لا آرام لکه حباب را خښه پووه
تل چه یې هوس کاندې سره لاس وخونریزی ته — سرې د هغو ستر گو قصاب را خښه پووه
یو طرف ساقي شو بل طرف شو جام دمیو — عقل یې له میانه په شراب را خښه پووه
وا چولم یار د جدائی په سره دیگ کښې — روح یې زما دځان لکه گلاب را خښه پووه
هیڅ یې نظر ونه کړ زما و خاکسارۍ ته — زړه مې سیا چشمو په شتاب را خښه پووه
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم — خواست دهرې ورځې دمخ آب را خښه پووه
« شمس الدین کاکړ »

زما زړه ګوره چا یووړ
په دوه زلفو لیلی یووړ

ځکه دی شوبې ارامه
چه د زلفو بلا یووړ

چه په خپل قوت غره وم
زړه قوت په تالا یووړ

دا کتاب زما دسترګو
سیلاب و د ژړا یووړ

خه بازار چه مې د زړه ؤ
ن ستاحسن په غلا یووړ

حسن باج ؤ چا ورنکړ
ده جهان په یغما یووړ

ما ویل چه مینه نه کړم
زړه بېپوا کښه شپها یووړ

قراری د زړه مې نشته
بېقرار زلفو ستا یووړ

داتمام عالم ښادی کا
احمد غم دا شنا یووړ

«احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش
هسې په سینه کښې ګویا مار ساتم همیش

زلفې دې سنبل مخ د ګلاب سترګې نرګس دی
زه باندې باغبان یم دا ګلزار ساتم همیش

داله تلوسې نه چه پر قلب مې یپرزو نه شی
ځکه په ځیګر کښې ستا ازار ساتم همیش

خلق زهیر بڼری چه مجلس لره ور درومم
پس له دې به زه نور ځان کنار ساتم همیش

عکس د رخسار چه دې زما په زړه کښې ګرزی
زه په خپل ځیګر کښې سورا نګار ساتم همیش

زړه مې ستا له غمه همیشه آه و فغان کا
زه په خپل وجود کښې دابیمار ساتم همیش

سترګې مې خلورشی ستا پر خواچه وعده وکړې
زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش

« مرزا حنان »

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کښې
دا یې غابن په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې

هسې رنګ سحر وجادو کا په نظر د شهلا سترګو
نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې

لکه ونښلې مرغۍ په سست دام د سلو لومو
هسې زه پسر پشانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې

دا زما له غمه شین زړه یکښې خیال د یار دلبو
هسې رنګ زیب وزینت کالکه مې په شنه پیاله کښې

ما ویل عین ګل ګل دی دغنچې په لمن لغښتې
که مې کوت یو ګل اندام ویروت په سبزه دوشاله کښې

شکلی مخ کا ولې ناسته ، په مجلس د رقیبانو
په جوار د سپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کښې

سرتر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم
ځکه یم مدام داهسې په فریادو په ناله کښې

که یار غواړې هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده!
دا یې دا چه درمونده شی په دریاب ئه په ناله کښې

« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم
له رواج او له رسومه بیرون چا کړم

نه پوهېږم چه داهسې چارې څوک کا
لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم

کومې سترګې کوم بانړه کومه غمزه ده
دوب شهید غوندې په خاکه اوپه خون چا کړم

نوان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ
په فتنې د تورو سترګو مفتون چا کړم

رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم
چه دا هسې رنګه زبون او محزون چا کړم

« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردوغم کښې شادمان یم
لکه ګل دبر پشانۍ په وخت خندان یم

ته زما و بېکسی ته نظر مکړه
خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم

لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره
په ویرا نه ویرا نی کښې ابادان یم

پورېښتنه مې د صورت بې عشقه نه دی
څوکیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه
لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم

د کاملي عقیدې له بره کته
دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم

روښنائی مي په طلب کښې شوه حاصله
شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان یم

چه صفت د تورو زلفو د اشنا کړم
بلی، سر په لو په لار د هندوستان یم

بی مینه مې هیڅ حال د صورت نشته
لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم

دهوس بلبل ویسا را باندې نه کا
دافلاس په کبل بو تې د خزان یم

دلرانو ته خاك تر تللی لاندې
د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم

چه دیار په دیدن سرو مال شنده
خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درد و غم کښې غرقاب خوښ یم
په داور کښې بیطاقته بیتاب خوښ یم

تر دا بوچی گفتگوی چه زه یې اورم
په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم

چه دیار دخط وخال ښې پکښې وي
زوړند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم

د ریا تر ناقبوله عبا د ته
دساقی په میومست او خراب خوښ یم

چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی
له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم

دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی
ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

خاموشی که هر څو لویه مرتبه ده
زه دیار سره په سوال وځواب خوښ یم

دیار دهري غمخوري یم عاجز کړی
رحمان څکه په خوړدن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم
هم په دا ښو دبدانو تو ز لیمه یم

له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی
په خپل خوی کښې سوه اوزم تراوبه یم

چه وماته وزما عیب پښکښ راوړی
ددی هسی یار له خدا په په غوښته یم

نور زما دی، نار زما دنورو څه دی
دپتنگو غوندې مخ خیر دلحان په سوه یم

په ایرو یې مخ سپیره شي چه نفاق کا
آینې غوندې مخ سپینه تور په زړه یم

چیري نه وی چه به بل مخ وته گوری
په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم

له نور چا گیله گله عبد القادر کړم
زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زده یم

«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم
څکه یې دمدحې تر عهدې وتلی نه شم

زده یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو
راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم

اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی
کسی به د خلقو په ویل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم
بی یی د زلفو درسی ختلی نه شم
زړه مي پرواز غواړی ولي الوتلی نه شم
«عبدالقادر ختك»

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که بی آهه بی ناڅې بې زغه سوزم
دخال خیال یې ما ضعیف لره کافی دی
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې
چه خبر نه په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ دمخ یې څنګه پروانه یم
دمېنې په دود قانع په ابتداءه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مي قسم
زړه مي له نا وعده د نه وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل ویه خار نه کړم د جنون له قبضه
که مي سرولاړ شی ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مي ونه لیده هیڅ ستا د کاکل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وینو
خوښ په لذت یم دخوارۍ په اعتبار مي قسم
په ناامیندګۍ دتورې شپې دانتظار مي قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مي قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مي قسم
په تورو مینکو ستا دزلفو په هر تار مي قسم
گلان کړم هره ګړۍ په لاله زار مي قسم
« مرزا حنان »

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دعفتی ترمیان کړي تېر ګلونه
رضا د ځان مي په رضا دخپل اشنا ور کړي
چه مي زړه وړی په منګوله هغه یاردی زما
که د وصال په هوا را شی یکتنها دلبره
تماشه بې دیاره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش دخوله خالی اقرار څه کوم
دا که مي قول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بی له ده دقند هار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بارکزی »

سپین رخساردي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیګا تر منځ حیران یم
سېر یندي څوندي قی کړی کوامې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه بوزه لاړشی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره !
تور کاکل دي وای تورشپه دتم
نه پوهېږم چه عمر و کړم په کم
دهجران لاس مي و کاږی زېروبم
اژ دهار را باندي گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذردی کم
چه میرایی همراه نه وی هوس کم
دا یو ، لاړو ، السلام علیکم
« قلندر »

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای برهار دی
ستا د زلفو مار چېچلی نه رغېږی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو لیوني شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوبنۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده
هم ساقي شته هم بهار و صنم هم
چه رېښه پرې اېښوداي نشي مرهم هم
په ستا نوبه زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر ګرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتیده غم هم

په لذت دې دسروشونهو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نغاره دا سې آواز کا
که ناستې دیار کوی په خاورو مومې

د شبنم دانه که تخم شی د ګلو
چه یې نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوی طالع څه بیان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غریب ذی
داسمان په شان یې تېز دفتنو تیغ کړ

پسرلی مې دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاورې په سر اونم
لا مې غټ ورته په ځير کتلی نه وو
لکه ټیټ پری پیکر هم پری رو وو
یوه ورځ به دا غمزه و شي عایخا نه

بې له یاره رابنکاره زونډون ذبون شو
چه دعشق په مکتب ما دغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټی کړم
دحسرت ګوتې به غابښ کړی طبیبانو

سور پېزوان دبه سروشونهوهسی زیب کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دواړه لیچې دې وبنکلې مصری نورې
ستا له غمه به ځان زوه در حمان سوزی

پارسائی یې د پارسا له لاسه یووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خواری
معجزه چه د احیاده په دوه لب یې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا یوه مسلمانی وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه دزړه صبر دیار له سخه غواړم
که دنورو هوښیاری په عشق کښې پس وړی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ به دیدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتورې زلفې دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزی ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شیدا »

ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هیڅ رنګ په پېر ته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز رو پری وار تېر شو
چه فلانی هم لکه ګردو غبار تېر شو
« علیخان خټك »

اشتیاق مې دزړه مرګ وته افزون شو
هك حیران زا ته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور وینی مې لړ ون شو
له قانون او له شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دې محاصل په بند یوانو
دو پوه بنزم سر به پر بکړې د خوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئی د دانا له لاسه یو وړه
په چشمانو یې زما له لاسه یو وړه
لاس په لاس دمسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یې دهر چا له لاسه یووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه یووړه
محبت مې دا د عاله لاسه یو وړه
دخوشحال یې لا په خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پایه و لید نه
نور ه دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه په شپه به سره ناست وو
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
تل ګونه و هلې هر زمان ساده اهو نه
سري لمبې بې بلې دخوشحال ختک په زړه کړي

مست یم مې پرست یم رندې کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واڅه تور عالم و ته بخښلي
موړ به څنې نه شم زه د مېو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته حال دڅه یه هجران کښې
خلق راته وایې رنګ دې بیا زیړ شو عاشق شوې
دورد عاشق دادې چه په عشق کښې ملامت وي

توره چه تېره یې زې خو ګذاره اره کنه !
ولې راته وایې چه په ښکلو نظر مه کړه
شیخ دې نمونځ روزه کا زه به د کې پیالې اخلم
تا وې چه زما د خولې بوسه اکه دا روده
وینې مې دزړه خورې مګر نور څه لره نه دې
څه ژړا فریاد کړې دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د ګیاه غوندې څر کند شي
مې شته چنګ وني شته دخپل یار سره خوشحاله ؟

اکه مخ زما د یار دی نمر خوهسې وی کنه!
دعالم د بري خبري اور به اورتوري لښکر یې
بې دعشق له شوروشره چه هر ګز زما له سره
چه یې ریم عمل لا کا چه بې ورك کړې ځان پېدا کا
تاوې دروهه اوم مې زبر کړه بل سبق له زړه پدر کړه
وهغه ته مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموز دې
چه آزاد مرې وردرومې خپل مرادور ځنې موم مې
په یوه زمان تا یاره ورشي راشي خو ګذاره

سنګك به سینه دور کړی ستاله هسې سخته دله
وار په وار مې واڅه په دلبرو و ښند له
شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
نشته یو ه ښکلي چه ږ ي و بو لم بد له
ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېدله
سور خت یې اغوستې په دا لارې تېر بدله
«خوشحال ختك»

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و بی مې مجادلي یسې مرمه مرمه مرمه!
تل که هسې د کې پیالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسې لارې تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختك»

زلفې چه ول ول شي خو خپل یاره لره کنه !
سترګې چه پیدا دي خو دیدار لره کنه !
هر سري پیدا دی خپل خپل کار لره کنه!
غوا اړم دا دارو د زړه پرهار لره کنه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه !
نور تلې پیدا ده دې ښامار لره کنه !
ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
خپل باغ په لاس کښې څه ګلزار لره کنه!
«خوشحال ختك»

اکه زه په عشق کښې زبر یم زبر خوهسې وی کنه!
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خوهسې وی کنه!
ته ځی نور څه هر څه درومې سر خوهسې وی کنه!
ورځ دشپه داهسې کر کړه کر خوهسې وی کنه !
تل مې ته یې په خاطر کښې زبر خوهسې وی کنه!
په خبره نه پوهیږې خر خو هسې وې کنه !
په هیڅ‌ځا ندی تړلی ور خو هسې وی کنه !
دخوشحال خاطر تېر بردی پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال ختك»

د وفا خبر پیدا ران دی بیل خوا دروی
دا متاع د زمانی په دکان نشته
مګر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
ګنه بیل خوا ته د هیچا امان نشته
هغه یار به زه د کومی خوا ته غواړم
چه یی هیچیری منزل او مکان نشته
دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښې
زما یار غوندې دلبر په جهان نشته
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
چه وباغ و ته یی لار د خزان نشته
که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شی
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
دا ناپان به د رحمان په قال پوهیږی
داته کار د هر نااهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
چه کله ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سرو د مال وهره په ما مکړه
وهره ما څخه د سر او د مال نشته
روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په جو یبار زما د سترګو سروته یی
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
مخ دې بی له خط و خاله هسې زیب کا
چه یی هیڅ حاجت په خط وپه خال نشته
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی
چه په زړه کښې یی نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ګنج و عقل زار شه د عاشق د خاطر ګی او ښې
نه خروار د عقل سه د عشق یوه دانه
تیغ دیار له لاسه په مری د عاشقانو
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت دپاره
سر بند لی نه شی په ور بل د جانانه
ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه
مکړه دا د عشق خبرې مې سته رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

په ګڼو اواز ورو کوه بلبله!
پر پښا نه پیږی ستا د شوره له غلغله
عقل و هوش عزیز تر هر څه بندل نه شی
ته یو څه رنګه ډیر ګران یی د مل ملا!
خدای دې وکا چېرې چوخ بودې په بېهوشې
قدم ورو ږده درا پیلو په ګل ګله!
ومطرب ته مینا وایی وایه وایه!
دا معنائی پیدا کیږی له قلقله!
صدقه یی هم تر پسل عبدالقادر شه
څه قدرت لری چه وایی له دل دله!
«عبدالقادر خټک»

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
کښلې شی له حور و چه پری ور شی د زړه مینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نورې
مینه که ئې ګورې چه تر هر څه ده شیرینه
خیال یی د زلفینو لکه مار وربا ندی پروت دی
نه پریږدی و زړه ته بله مینه چه ور لحینه
سل زخمه که وخوری توی به یو څاڅکی پری نوڅی
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
خرب به یی بدل په بیداری خوښی پری و یر شی
هر چه یی په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
یار به هوا ندی که د زړه مینه پیدا کړی!
مینه هسې ځیز دی چه نه ږدی لری کوینه
څه عبدالقادره! په خوله مینه مینه وایې
خوږ ې لاو چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټک»

چه له خپله اشنا نه لری گیله  له نور چا به یه نور څه لری گله
انگوری ترخه شراب ور اره بویه  میخواران له گبینه لری گله
چه بی تا یې غږوم د بل و مخ ته  په دا خوی له ما نیمه لری گیله
هیڅ ایستادي یکښې ونکړتري برېوت  له ناوکه یې مې زړه لری گیله
چه جارو مې ستا د در د خاورونکړه  ډېر زما له ما بیا نه لری گله
بد و بد و ته ښکاریږی ښه و ښه ته  ښه له بد و بد له ښه لری گله
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ  بیا تري ولې یار له ده لری گله
«عبدالقادر ختک»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه  په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې گل د پېغمبر شی  چه یې د یه په مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د گلو گرځی  ځلمی گل به پگړی زدی په اور بل جونه
ځینی دواړه زلفې ډکی کا له گلو  خوك په غاړه د گلونو کا هارونه
زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو  و ایی سبر و نې و نیو ل گلونه
چه گلو نه تولوی سندري وایی  شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا  په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی و کورته  گل لمن ، بلبل یې پسی آستینونه
چه له هسی ننداره نه ځان وباسی  شیخه ورك دي شه پو خه خلوتونه
له لیدل د ښایسته ؤ یکښې نه وی  چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که لیده د روح خوراك دی  نفسانی دي باندي نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی  که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما وکړ پریزاده  چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك لکه سیند دی شعله بویه  که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بهاره ددي غرض مگر شاه کړي  ته یې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دي د تېشي په کهسار نشته  د شیرینې په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب ندی  د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه  که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع  د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کیږی  جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی  چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت د شراب نشته  اور د عشق مې زړه کباب کړ هیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مې وچ لرگی شو ، رگی مې تار در باندي پرېوت  زیر و بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت د رباب نشته
پر پر هار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه  حال مې خود ور ته معلوم دی ، هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم ، تپش کړم یه ځمکه باندي  ځان مې ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډیر دی — ستا د سترګو مستی بده ده ترمله
ښا یسته د زمانې د نیا پرست وی — په کوځه کښې یې بلمه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتیږی — څو دې زده هومره چغلی کوه چغله !
ساقی می چه را کوی یې په قهقه خانده — زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی — او که نه وی خبر جدا نه وی له کله
په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شی — جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخ ورته حاضروی گل به گوری — دغه ستر گې دې دخدای نکا بې گله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استې — کوم نقصان دی که صبا کړه ډیوه گله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تیرشه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر ختك»

سرو کښه لیده شی د چمن تازه تازه — ستاحسن تری ویشم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چندنو — یا دوا ده نافی دی دختن تازه تازه
گوره ستاله مینې زړه یی ټك دی ویښې ویښې — رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
سازدی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع — وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دیوانه وم ، دیوانه یم لا تراوسه — له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تر اوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم — ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم — تر خلو ښتو کالو تیر شوم بیگانه یم لا تراوسه
چه عشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم — تورو ښتو مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم — عام وخاص مې وائی ولی نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم — عذر نلرم له حکمه ، بی بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بی قیاسه — څوبې حده مې ډیر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه مست یم
په ازل مې شراب څښلی دیوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستاله لاسه زړه یا ره سینه افگا ره — ته له مانه څه غواړې فلکه ستمگا ره
ته یو موش گیرك یې لایق نه یې د گلو نو — ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !
یار دې له ما بیل کړ تا څو هیڅ ښادی و نکړه — وایه څه دې وګټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لو غړن کړم — بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو ګل یی خار شی په لمن زما څو خښږی
نه چه د وفا طمع کوي له سر و قده
غوخ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پند ونه
زده مي که نادان په لاس کښېومات لکه شیښه شو
او شي دبا نو په سر چه را شی نه در ښږی
نه شی څوك سا تلی سره بڅری په ګر یوان کښې
نه دی چا مو ند لی ښاپېری په دو شا لو کښې

چه صبا یی په هر ګل با ندې طوا ف کا
د پتنګ په دود د ځان په سو ر ضا یم
همیشه د ګل په بو ی زه شمس الدین ځم
میل نکا را ته با ز د یا ر د ستر ګو

خوښی له وصله نه شوم د هجر ان له غمه زه
خلق را ته وا یی چه ز حمت دي لاد وا دی
سر دې په جها نکښې د همه وا ړو ښا دیو
لوس به‌اه دي ورو سته دخپل یارپه غم اخته شم
غیم د ی له از له په نصیب د عا شقا نو
ما عبدا لقا در چه دا غزل د فر اق و وي

یو غوا ړم له یا ره ښه دیدن تا زه تا زه
ځکه بلبلا ن چغا ر کوی په تا زه ګلو
یو ز مان له مد حې د د لبرو مه د ر ښږه
ز ړه چه در قیب ز ما په بد سره ښه کښېږ ی
آه کوی له د له په فر یا د له ز ړ ګله
بل فکر مې نه کیږ ی بی ستا له ګفتګو یه
مه کړه په جفا سره از ار د بلبلا نو
ستر ګی مې خیره شوی چه ولاړ یې زه دي ګورم
ز ړه د یو نس چو ی ستا د هجر له سختی

سیر د ګلو نو چه کوم یې له خپل یاره
سرو به هیڅ لید اې نه وی میوه داره
مه کوه میرا ! نوره جفا درب دپا ره !
« قلندر »

واڼه بیفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
نه شی څوك ایښو دای وښیښوته پیوندونه
ندی چا بند کړی په ګیا سره سیندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مینه پسر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسی سرا غ لرم له شوقه
تل په لاس کښې‌پردی زاغ لرم‌له شوقه
«شمس‌الدین کاکړ»

نه کړم به ګل مینه دخزان له غمه زه
لا به چه‌بی‌خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم بېغمه د جانا ن له غمه زه
ډېر به زده زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صیږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران‌له غمه زه
« عبد القا در خټك »

بل در قیبا نو ځا نکښتن تازه تازه
نه به مدام ګل وی نه چمن تازه تازه
تل دیاره وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
شیر شکري وایه له دهن تا زه تازه
ښه خو په وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
ښه خو به خپل‌مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مې و لیدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لاتېری کا جمال ستا دی

د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه
چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دی

د واړه زلفې د حلقه کړې لکه لومې
چه دانه دی په دا لومه کښې خال ستا دی

دواړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درومې
ګوره بیا څو مره وګړی پایمال ستا دی

ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه
مقتولا نو قبول کړی وبال ستا دی

که همه د خلقو ښکلي سره ټول شي
خسته زړه مې په ټولی کښې لېوال ستا دی

چه دې څوك په کوڅه تېر شي نور مېن شي
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستا دی

که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته
چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستا دی

چه صبا بېګا یې لوند لرم په اوښو
یادګاری را څخه پاتې رومال ستا دی

څو ربار در سره نه بیایې دوړاندې
چه په چم به یې تېرېږی محال ستا دی

که په قهر یې شړې په لطف یې بولې
چه یې نه پرېږدې په هېڅ کښې خوشحال ستا دی

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی
قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی

حاجت نه لرم په شهد و په شکرو
لب د یار شهد و شکر دری واړه یو دی

که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نارو خارو دا بستر دری واړه یو دی

چه و دراو و دېوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان او دغه در دری واړه یو دی

چه غبار یې د کوڅې را پاندې راشي
دا غبار مشك و عنبر دری واړه یو دی

خدای د یار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت و قتل و دا خبر دری واړه یو دی

هغه دم چه سړی درومی له جهانه
توري خاوري سیم و زر دری واړه یو دی

قلندر که په رښتیا قلندری کا
خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی

په دکان د نابیناؤ جوهریانو
خرمهرې لعل و ګوهر دری واړه یو دی

دا پېران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عاشق پیر و پدر دری واړه یو دی

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور و پښور دری واړه یو دی

غزاو شوه که خانستانۍ و رحمان ته
بې هنرو ګاو خر دری واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چندنې پاندې ښامار دی
توري زلفې دی سنبل د نو بهار دی

توري سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی
چه و څرو ته پرتې په سنبلزار دی

توري ورېځې دې لېندې پا نه دې غشي
عاشقان یې زخمي شوي په ګذار دی

مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
پېدا لان یې په سرونو خریدار دی

دغه خال چه دې دوړو څو په پیوند دی
دخطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی

سینه پوزه دې غوټې د زنبق ده
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی

ښا ګوښ د نسترن دي غوړېدلی
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی

سینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غوټې کله شکر بار دی

دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو
سپین غاښو نه بې بها در شهوار دی

ښا یسته ز نه د سیب د سمر قند دی  چه خوا زه یی تر ښا تو نه بسیار دی
صراحی د سپینو ر رو سپینه غاړه  سیم اسا اوزي دي هم په د غه شمار دی
واړه تن دي د حلب تر ښیښی صاف دی  چه را زونه دد رون تري نمو دار دی
سپینی لیچي دي و ښکلی مصری تو ری  چه خو نونه یی په غاړه سل هزار دی
دیا قو تو نیګنی دي سره نوکو نه  ځای په ځای دي په اوزوباندي قرار دی
چه مي ستا د تیو ښه ننداره وکړه  هغه ګلک به لذت ډك خوازه انار دی
د نامه غوټی دي ګل ده د ګلا بو  کینړ اوښی د ګلو پاڼي پري انبار دی
د نامه نښکته دم و هلی نه شم  هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډو یو تر صفت دي نه ر سیږم  ولې سپیني په سپینو الی تر چټار دی
سپیني ښې دي د ز نبق د ګلو پاڼي  دیښو ګو تې دي ګلو نه دانار دی
تمام قد دي په مثال د صنوبر و نه  در پنده یی سم په مثل د چینار دی
سر تر پا په ننداره بی ځان دي جوړ کړ  تر تا جار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو  د لو بیا دا نه یوه مټر خر وار دی
نه خو ډېر مهر کوی عمر دي ډېر ښه  دخوشحال ختك دي تش لیدل په کار دی

« خوشحال ختك »

عاشقی را باندي سوری کړي مری  هیڅ مي نه د رو می بې باره تر مری
څه اثر به یی د عقل وی په سر کښې  د هغو په سر چه کښېني ښاپېری
د مژګا نو په پنجه مي زړه و کاږی  خدای دتر کو مستي ستر ګي کړي مرزی
علو فه به یی بېغمه نور څه نه وی  هر چه کاندي دخو بانو چاکری
لښ د صبر سبق ما لره هم را کړی  که په عشق کښې خوك دغه طاقت لری
خدایه څه دي د کو ټوال په لاس کښې ورکړم  شپه او ورځ مي غنړ وی لکه تو ری
په صورت مي نر ی تبه شوه و لاړه  تاچه دواړه ستر ګي تو ري کړي نری
د وصال د لا لان کوم طرف ته غواړم  چه بهند ی شوم د هجران په کچری
نور د شمعی په فانو س کښې پټېږی  تاچه وا غو ستې دخیال جامی نری
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جو نو  چه یی ملاوي د و پښته په دو د نری

« عبدا لرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی  بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی  دا بید رده بیصر فې ګز ار دچا دی
ما خو نه دی څوك پیو جهی از ار کړی  دا چه ما از ار وی ازار د چا دی
چه یی درست جهان د مخ په رنګا زیست کا  دا آفتاب غو نډي روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یی ر سېدی تر ګلو نه شی  دا د ننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه  دا نا ترس اوبی پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سر خم دی  یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دي مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته  د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو  پیدا شوی شام شفق او صبحدم دی
په د هن کښې دي غا ښو نه تجلی کا  یاغو ټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوښ ستا په غمزو دی
چاره، غوښې له قده یم سره په غم دی

بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه
د نرګسو غوړېدو د جوی په نم دی

راحت نه دی چا موندلی بې زحمته
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی

ستا د حسن د تعریف له بر کښته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! اعتبار ولی له ما کړې
چارې د قسمت دي، زه یې زشت ته یې زیبا کړې

یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!
ای د صبا باده! چه بیا غنچې غنچې واکړې

ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه
سرې دې له فراقه لاله سترګې بړندا کړې

ولې له شیدا بلبلې مخ جار باسې ګله!
ته په دا خوبې هم دده نار و رسوا کړې

لاخوشبوبې ورکا چه یې واچوی واورته
زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې

ته د حسن نمر یې دانور ښکلې لکه ستوری
ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانې
خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې

قدر د بلبل چه پاتې نه شو په ګلزار کښې
جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې

سپینو سترګو د راوښو واړل په خاورو
نه یې وساتلې په پښه کښې د ر دانې

هر ساعت چه دمه کا سنګار د یار د زلفو
وخېژي تر زړه زما غا ښونه د شانې

هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو
ور کې شه بیخایه د پښتون د پرې ستانې

تل مې لیونی عوندی خوک نه پرېږدي و کورته
ځای رالره نشته یې د یار له امتانې

هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې

مرګ د شمس الدین چه د دلبرد یاده نه ځی
شپه ورځ بې تړلی دی په ګوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی
د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی

اوس له ویرې په کوڅه ورتللی نه شم
ما د مستو سترګو جنګ لیدلی دی

غم و ښکلې توري راغی که مې پرېږدی
ما خلاصی د ستا ترخنګ لیدلی دی

ما بېګا شپه د یار مخ لیدلکه شمعه
دا خپل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی

دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړي
چه خپل حال یې ډېر بدرنګ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لرې کوی
تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لرې کوی

تل آرزو لرم چه به یې حال و یارته وایم
ګله سپی غماز له یاره ځنګ لرې کوی

خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی
ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لرې کوی

خدای په دواړو کونوهغه روند په تور لیمه کړه
خوک چه ستا له شمعی ما پتنګ لرې کوی

یار مې په شړل ندی راضی زه پرې بوهېږم
سپی غماز له دره ما په جنګ لرې کوی

بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره
ګله مست بنګی له ځانه بنګ لرې کوی

بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه
عشق بوهسې رنګ دی چه بل رنګ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
ګوره دا په ځان خوني تورمار لره ورد رومي
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب را درومه
چېرې هم طبیب ورو ورو بیمار لره ورد رومي
ځم د یار په لوری په هوا هوس خوښې کړم
ذوق کاندې بلبلې چه ګلزار لره ورد رومي
هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبګار لره ورد رومي
«خوشحال خټك»

خوږې شونډې دې شکرې نه دي څه دي
ښکلي غاښ دې مرغلرې نه دي څه دي
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
سیه چشمې سحر ګرې نه دي څه دي
چه د زلفو په زنځیر یې زړې بند کړل
هوسې سترګې زړه روړې نه دي څه دي
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
ښېښتني په قامت سترې نه دي څه دي
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې نه دي څه دي
«خوشحال خټك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ېږي
سترګي د ښو په درانه بار نه زهیر ېږي
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ورکړی
هیڅېرې بې زړه په عاشق خوارنه زهیر ېږي
څه شو که ترې سلسله ځار ېږي په ساعت کښې
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ېږي
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پرې والوزي پوخته
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ېږي
ګرانې دي هر ګوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر ېږي
زړدی چه خبر به شي د سترو له احواله
هرچه د وېښتلو په آزار نه زهیر ېږي
سرغواړه له خدایه خولۍ ډېرې دي فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ېږي
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روشن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایي عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښېږدي
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسې شا ویل کا
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستي یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال خټك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون ګو ګل مې درست دو ینو ډك شو
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرها رونه په ما روغ کړه
لرغونی مې لا روغ نه دي ځینې ځینې
په زړو نه ون یې څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یې کړی په مرینې مرینې
زه دې درست له باغه وا پستم د لبره
تورزاغان پکښې مېوی خوری خوړینې خوړینې
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه ګلو ښتی دی دمښکو چینې چینې
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دي
د خواجه محمد و مرګ ته ودینې ودینې
خواجه محمد بنګښ»

نه به څوک بې ناچارۍ وطن پرېښې دی
نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېښې دی

که ستا مخ یو ځلي و وینې په سترګو
بت پرست به نور سجود دوشن پرېښې دی

د یوسف غوندې به څو ځنې بیرون کا
که د زني چاه ته زلفې رسن پرېښې دی

که دې ولیدې سرې شونډې جوهریانو
په یاقوت پسې به تله د یمن پرېښې دی

که د لبر به دا ښایست لاړ شي چمن ته
د خولئي دعوی به ګل د چمن پرېښې دی

«کامګار»

چه یوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې!
که درسته دنیا ستا شي هم څه نه ده دا تر پورې

داخوې زما قدیم دی څه ماوس نه دی راوړی
چه یې دزیبا مخه رانه خس دي چارې نورې

د خلقو تهمت یو سر دجهان غم نه بل سر
هم ته به مې لاهسې رنګه سختی بلا ژغورې!

دا اور چه په ما بل دی دخپل یار له جدائی
نه ګرم نه ملامت یم که تل وینې ژړم تورې

اشنا ته وایه نشي نا اشنا به څه خبر یږي
دا راز چه لاهمانه دی اوریدلی خپلې مورې

ناوک یې د مژګانو دابرو په کمال جوړ کړ
خدای زده چه به د چا تر زړه ګی وزي پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال خټک خاطر په لاسو کبوت
په قدر ي خبر شه چېرې نه په لېږی پلورې!

«خوشحال خټک»

شنه خال لونه چه د پاسه پر جبین زدې
دا زما پر زړه دا غونه آتشین زدې

د عشق اور مې ویلوي د زړه ګی شمع
بېهوده مې پر موم نقش دنګین زدې

ما دې خیال اره فرش کړی تور لېمه دی
ته یې نیا زه قدم ولې پر زمین زدې

په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه
په راحت چه سر له نازه پر بالین زدې

«پیر محمد کاکړ»

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع ګانې

### (۱) - مخ:

بادیې لاس په پلو کېښېږدی سره ریږ دی
ګل یې مخ وته نظر کا خوله پرېښې دی

«خوشحال خټک»

د پرې ښکلې جوړه مالیدلې دی په سترګو
روند شم که به دا غوندې په حسن بله وه

زور د غاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دی
زخم به پرې وشي په ورو ورو یې ښکلوه

عمر به یې لنډ شي که ئې تار دزلفو کم شي
فهم کړه ای ړمی! ز مخ ورو وروچلوه

«عبدالقادر خټک»

ای چه په مخ وړې خو ئې له ور ده
خالي یو دم نه یم د ستا له در ده

ته یې آ سیبه بهی، سیب او سی
که تر نارنج مې خپر ده زر ده

«عبدالقادر خټک»

که مخ دې نمر کړم دنمر کړه وړه نشته
که یې سنبل کړم سنبل مشکین نه دی

«عبدالقادر خټک»

د پر هوس لرم د استا د مخ و ګل ته
زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړي

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دې ستا کعبه د عاشقانو
تور دې زلفې غلاف و نه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د غاښو
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دې غټ و مخ ته کتی نشم
کله لید په خوږو سترگو شي د نمر مخ
«قلندر»

دا دې پار خو دی، خو له نیو لی
که لا له گل دی پر خپې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښو نه
که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال خټک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته مړه نشوم
نور به څو پردې نا بوده دنیا ویا دم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !
په درست باغ کښې یو نسرین هسې لري !
«خوشحال خټک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خاوانه
څه عجب ز یبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال خټک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې و یل دې وا ړه نبات دی
خوا ږه دې لا د گنځلو زبات دی
خوك یې چه ښکل کا سخ د هغو دی
شونډې دې دوا ړه آب حیات دی
«خوشحال خټک»

بوی به ستا د محبت څخنې روان شی
که پاره مې د نافی په دود ټټر کړي
په ناز کو شونډو بار د پانو مه زده
خدای چه شونډې سری بی پانو درته در کړي
«عبدالقادر خټک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده
څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی
دوا ړه زیست کا په یو ځای کښې بی جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینی د استاذ نخ پر آب
زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان و زړه ته تېر کړم
په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال خټک»

چه په خیال د سرو ابو د شونډې خملم
هر سحر څا څی ځما تر بستر و ینی
«عبدالله پوپلزی»

### (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مېنې سر گرم

گویا اخلی د یاغیانو فلنگو نه
څوك پراته غاړه غړئی په یالنگو نه
د غرځه غوندې په هسې کړ سکو نه
«خوشحال ختك»

چه د یدن دمین و کړمه تازه شم
په ارمان د هغه وخت یم دریغه دریغه

لکه کښت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سېب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال ختك»

څوك چه زور سره ښکاره کا وزیاتیږی

که پخپله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال ختك»

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هوډ مې سپینه خوله غواړې ختکه
«خوشحال ختك»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال ختك»

سر به درکړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم
«خوشحال ختك»

په رښتیا رماته وو ایه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وز پیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال ختك»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی تهمرې

اوس یې په وصال کښې دواړه لوریه ښکلوه
«خوشحال ختك»

دصبا باده! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

په چمن کښې رنگا رنگ گلونه واکړه
په شکار ناري وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال ختك»

زده مې تخمخ کېږی دسپین مخ وښکلول ته
زه چه ځنې سوال دبوسې وکړم راته خاندی

لاس یې لر بر کېږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحال له

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال ختك»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو

قسمونه مې نا صح گڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په څو زو یې د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هر ار لحله شیخی کوی خوشحا له

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال ختك»

## ٤ ـ سترگی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری سترگي
هسی پري غوځېږم وایی توري لری سترگي

یارمي په ښایست کښي بې نظیره بې مانندی
لا په درست صورت کښي ده پر مشهوری اری سترگي

ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هوري دوري اري سترگي

هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی
هرچرته چه زاني شاهین هوري لري سترگي

« خوشحال ختك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ
قدم نیز دی په رکاب زما د سترگو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می د ښو کړه تري چاپیره
گوندي خیال دیار په سترگو کښي حصار کړم

« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تیر ځان شهید کړ
چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس

مرگه دژوند زما پوښته له مړاؤ سترگو
په رسا گذار یو هیڅری د تور زن لاس

« عبدالحمید مهمند »

کښی وروځی کوزبانه چه دي را یاد شی
کازه غشي مي تر زړه لوېږی آزاد

« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا
پري به غوځ شی هرچه کاندي ننداري

« میا نعیم متی زی »

باز دیار دسترگو دمږ گانو په پنجو کښي
دی لکه تنزری په چنگ و دی زما روح

« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو سترگو په تعریف کښي
نه ده کمه شاعری له اجتهاده

« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري سترگی خدای خوني کړي
گڼه خون کله کولی شي بیمار

« عبدالرحمان مهمند »

خپلو سترگو فتوی در کړه چه مي وژني
حیراني ده پر دا لو ستو د مکتب ستا

وکوترته حاجت نه لری د ښپلو
چه جام نوش کا خوك دمیو لباب ستا

« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم
دا د سترگو باز مي بیا راځی وښکار ته

« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښي مړ ندی نشی
عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا

« عبدالقادر ختك »

بی د یار له مړاوو سترگو چه کج گوری
گڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت

خوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت

« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و دشت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا

« پیر محمد کاکړ »

روهي ګلونه (٥٢٥) ـ سردار محمد ، ح سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرائيه پښتو ټولنه ١١-١٠ ـ ٤٣٥

## ٥- غاښ

په آرزو د سپينې خولې يې په بوستان کښې ... نرگس پياس پر سر نيولی د ه پياله
چه يې وليد ه خندا د سپينو غاښو ... له شبنمه لمن ډکه کړه لاله

« شمس الدين کاکړ »

په ر نما د سپينو غاښو يې خرم وم ... وا قف نشوم د هجران د شپ له دا چه

« پير محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرويو هسې زيب کا ... لکه بر پښې په سحار کښې ستار ه

« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو ز انګی په غوز کښې ... کوا کب کا په اسمان لر زان حبيب

« ميا نعيم متی زی »

چه له غوز وتی مقصو د مو می لښتی ده ... چه له پوزې يې مراد مومی لونګ د ی

« خوشحال خټک »

سپينه پوز ه د ی غوټۍ د زنبق د ه ... چه چاپير تري نور ګلونه د ګلدار دی

« خوشحال خټک »

## ٧- خال :

مخ وته يې ګوره چه په مخ لری خالونه ... څه عجب زيبا د ی لکه ګل د پيغمبر

« خوشحال خټک »

زه حيران د استاد وريځو په نور خال يم ... کافر څه رنګ سجده کاندې په محراب کښې
ګل ددوری بار يکي ه په شبنم خوړ شي ... نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښې

« عبدالرحمان مهمند »

مشکين خال دي په سروليو هسې زيب کا ... لکه مهر په مخزن د در مرجا نو

« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه ار به شني کا ... زړه مې شين شو ستا دشنه خال له لاجورده

« شمس الدين کاکړ »

چه ز خال و خط خبری يکښ نه وی ... د عشا قو يکلار د ا ترا نه نه د ه

« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين ز د ي ... دا زما په زړه دا څونه آ تشين ز دي

« پير محمد کاکړ »

شينکی خال د وروځو منځ د مهر و يانو ... هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطيب

« ميا نعيم متی زی »

زړه می څکه په سل ژبو گفتگوی کړی
چه شانه وهی په زلفو د نګار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لشکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دی نه کا حال کمان کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زرعونه کره تر سنبل او سره ګلاب
« میا نعیم متی زی »

زانګی پکښې زړونه د عاشقو سره په ویښو
ته چه چیری کینږدی سره ګلونه په اوربل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره
چه په څه ښانې تاوېږی وایمان ته
« خوشحال خټک »

که خوك وایی چه مار کله په کټ خیږی
زه خو ورته لیدلی یم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یی ږدم
که د تورو زلفو تار په لاس راکښیوت
« مرزا حنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانګی
ښامار ان دی دچندڼو په ښاخو نه
« خوشحال خټک »

دار بل یې هر یو تار یې زړونه بند دی
مشاطه ور باندی نور یسی په تارو
« خوشحال خټک »

که د دیدن حج اکبر کوی تلو ار راو که
چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په ښو کاندی
په زړه خو له لګوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی ختنو وهم مین دی
بېهو ده د وز ته کښېښو د ادم په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ک می د نشه لړ مون په اور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دی
زړه سمندر دی پکښې یی کور شو
له بخته خو بنې یم چه بخت می تور شو
« عبدالقادر خټک »

په لیده یی پیچ وتاب شم نه پوهیږم
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلو میږی
څه بلاده د شوخ چشمو په کا کل کښې
که ګلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی ګلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه خو دی کله زلفی په مخ زانګی
واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال د زلفو یې د زړه له جیدا کیږی ... دې کیبی یو بن پښکته شی تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی ... چه په مادی نظر وشو په خندا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله په خپل قهر لکښی مسینړی ... لکه خو کښ په هندو بار کښی دینداري کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا ... قدر ز یات لری تر خه چه شی شراب
« مرزا حنان »

## ۱۰ـ لاس:

د اغنما د قاتل لاس دی نه یو هینرم ... که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبری زړه په سرو منگو لوړی ... چه لاس یو ن د ویښو د کښی دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نوکان دی دسرو گلو په ځېر زیب کا ... د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا یی ... پو ری مور که ښا پیرئی یی راوړ ی
« خوشحال ختك »

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم ... چه جر گه دعا شقا نو وی پر پنده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خو په ... لکه گل په نمن پت تازه شبنم ودم
« شمس الدین کاکړ »

پو یکښی مخی د فند هار د کښلو نشته ... کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه د شمس الدین په حساب سره دری ځای کړ ... یو طرف دي تیك شو بل دی ته بل چار گل
« شمس الدین کاکړ »

خو بړو نی یی دلبرئی څه په کارنده ... لکه ونه بی میوی په پانو پوره
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفی نشته خالونه سره رخسار ... ښشه طوطیان دی سره گلونو تور ښامار
«یونس»

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامي یی واغوستي رحمانه ... بیایي جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنگ یی تن معلوم دی ... هر ه ورخ چه جامه واغوندی گلنار
« مرزا حنان »

نور د شمعي په فانوس کښله پټېږی ... تا چه واغوستي د خیال جامي سپوږ
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسته‌دي له‌خپل‌غريو واپستم خوشاله      يودغاړي هارمې د ګلونو مه‌شلوه
« خو شحا ل ختك »

## وښي

داهلال دی چه‌ليدل‌شي په‌شفق کښي      که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپين‌وښی‌دی
« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳ـ عيش ،اودعشرت‌سامان:

دنيادار کړه چه نه‌وی ښي دلبري      اوردي يوري ددنيا په‌ملك ومال‌شي
ارمان دادي چه به زه هميشه نه‌وم      هميشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شي
د ګلونو وخت‌تيرېږي ساقي! ګرم‌يې      که دجام په د کولو دي اهمال شي
« خو شحال ختك »

❀ ❀ ❀

ساقي ! يورته شه‌دميو جام تيار کړه      عمرهيچ معطلي نه کوی‌تلوار کړه
که‌غمخوارغواړي‌په‌غم‌اوپه‌اندوه‌کښي      ښيښه د که د شرا بو اختيا ر کړه
هغه‌څوك دی‌چه‌تهمت پري وايه‌نه‌شي      غوزيه‌هيڅ‌ابانديمه‌باسه‌خپل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌ښوه‌شراب‌ساقي!بيابه‌ارمان کړي      عندليب ناري وهي چه‌بهار دروي
« عبدالقادر ختك »

❀ ❀ ❀

ساقي وخت دنوبهاردی شراب راوده      دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خو شحا ل ختك »

## رباب

په‌آواز مې‌يې دزده پرهار ګانه‌شي      مين ځکه د رباب په زيرو بم يم
« عبدالقادر ختك »

له مزينه زده مي نرم اواز څېړی      ځکه‌خوښ ئـکه‌رباب په‌زيروبم‌يم
« عبد ا لقا د ر ختك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی      رودوسرو دو نقلو شرا ب وای
ښي‌ښي محبو بي ښه ښه احباب وای      خو بي د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل ختك »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شي      په‌پياله کښي ساقي! مې‌تر يوه‌ورو
« عبد القا در ختك »

ګله ! ته چه د بلبلي مخ جار با سي      مګرستاپه‌خپل‌ښايست اميدمدام‌دی
نور چه تل د کي پيالي نشوی ښه‌دی      په‌يوه‌پياله خوشحال‌ختك بدنام‌دی
« خو شحا ل ختك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا گلگون شراب د کومې میخانې دی          چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا گلونه نوې میخواري کړه          د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختك »

د رحمان شراب له عشقه          نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو ميو ناوې راسته ناسته          زنگاري کميس اغوستې د مينا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق يم د شرابو          وينم يکښې هر دم د خوبانو انعكاس
« قلندر »

په تاخير کښې افتونه پيدا کېږي          معطل مه کوه ساقي! په داد و مل شه
« عبدالقادر ختك »

يو نفس دياد پياله له لاسه مه ږده          دا شراب حقيقي نه لري خمار هيڅ
« دولت لواني »

نن هغه شراب حرام دی          چه پسې کاږي له انگوره
« شيخ دولت »

اې ساقي د جام په ور کړه سستي مكړه          كاشكې بو هم پاتې نشي هوښيار دريغه
« دولت »

## ۱۵- بيلتون:

گيڅ رنا د نمر خپره شوه          زما ير كور د وير ناره شوه
د بيلتون ورځ تورو تيا ره شوه          غږ شو نا څا په چه بيلتون راغى
زړه مې له دې وير نى سين دى          په زړا ژاړم څه ما ورين دى
زر غون له او ښو مې سا دين دى          په نول نو لېږم چه تا خون راغی

❁ ❁ ❁

نه به بيا يم نه به بيا را شي          نه به تيا ره شپه زما رنا شي
نه به شڅي را ته پخلا شي          بيلېږي پېږيي اوس ديون راغى

❁ ❁ ❁

د ښبتن يار دی هير مو نكړی          آ غليه مخ چه په يا نه كړي
اور بل دې پر ښو وی وا ته كړي          په ما دبل اور كړوون راغی

« دا شعر دشيخ تمين بن كاكړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو كښې ژوندون كاوه »

❁ ❁ ❁

وير مې زړه سو ری سو ری كړ          را ته وگوره ملو كې!!
په بيلتون كښې دې وباسم          له خوږ مينه زړه گی كوگی
را ته وگوره ملو كې!
را ته وگوره ملو كې!

د بېلتون او رونه بل دی      هر گړی می زړ گی سوځی
لیونی یمه د مینی !      سوځم زه لکه پیلوځی
راته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

غوړ ولی دی اور بل دی      اور زما په زړ گی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم      په اور سوی می گوگل دی
راته وگورد ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

« قطب الدین بختیار »

❀ ❀ ❀

« متوفی : ٦٣٣ ه »

جدائی دما په زړه کاهغه چاری      لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی      خدای یی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښي دگوگل په جوش پیدادی      لکه اور چه له کباب نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خیژی      زمانه دخوشحال زړه ورته امآج کا

« خوشحال خټك »

که داستا ستر گي را اوجا ربا سم مخا نته      له بنیادی په یی نور شا کړم وجهان ته
یو زمان مي که داستالیدل نصیب شی      نور به ستر گي پورته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کښږدی      تا ویشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندي تیر یږی ستا په عشق کښي      خدای دي هسي حال پیښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه دهر ژاړم      دواړه ستر گي مي پیغور کاوباران ته

« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم      لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ

« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښي شوق دبوسي څه کړم      خوږ شربت په حال دمر گ د بیمار نشلی

« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو      دبن طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه      دښو یارانو فراق نتلی یو

« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر گه خوږ شي په کومی      چه تا ناري کړي دلبر مي دروم ی
یومي دلبر ځی بل رانه زړه وړی      زړه مي بدا وړی چه دلبر نومی

« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی      په هر چاورمشه بیوخته میلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ      په دریاب کښي نشته نمونځ په تیبا نه

« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره      دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو      سیل د اوروندی چه رادرومی له کهساره

اور د خوږو زړو دی چه د غره پهٔ نوبل شو    سری دوږی خېژی له نښتره له چیناره
غواړی چه احوال د فراق څنو در معلوم شی    گوره هغه زاني چه جدائي ځی له قطاره
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی    راشه که بي اوري د رباب له هره تاره
رنځ مي نه کمېږی پهٔ زمان زمان زیاتېږی    زر راځه طبیبه! گني مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبانو بل ژوندون د حبیبانو    خدای ژوبه هنگام د وصل کېږی دادوه کاره
څه شو که لا د موهی پهٔ شمار دی د ژوندیو    رنځ چه لا دوا شی طمع پر یکړه له بیماره
هسي خوار و زار شوم ز خوشحال پهٔ عاشقی کښي    خپل دی که پردی دی راته نه گوری له هاره
« خوشحال ختك »

چه پهٔ وخت د تلو راتلو کاچیغار و نه    دهوا دیاران را یاد زانی اکثر کا
« عبد القادر ختك »

که هر څو د بېلتانه له غمه وایم    خپل ژوندون مي دروغجن کاندي چه بایم
پهٔ قد کوږ پهٔ تن ضعیف گوښه یولی    پهٔ مثال لکه ابرو د دلربا یم
« عبد القادر ختك »

له ښکیه و چاوده وخت د صبا شو    پهٔ هر مسجد کښي اذان ادا شو
راشه چه ښکل دي کړم اوس پهٔ بېلېږو    پهٔ ځان ز مو نږه صبا بلا شو
« عبد القادر ختك »

مین را یاد شو د استا له رنگه    که یو د رنگ کښېني ز ما تر څنگه
که اشنا نه یی د اشنا مثال لري    ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!
« عبد القادر ختك »

وخت د سحر شو پر یوتي تلي    له کښېیه لوریه را و ختلي
د یار د راغلو وعده شوه تېره    پهٔ دېر کتل مي سترگي و تلي
« عبد القادر ختك »

د مني وخت ؤ یو ئي لیدلي    یو څو بلبلي چه ژړېدلي
خواري خسته وي وي مي سزایی    چه بي گلونو و یا ئېدلي
« عبد القادر ختك »

و دل د هجر پر ما شرط مکړه پهٔ عشق کښي    ز هر چا خوږ لي نه دی پهٔ شرطو نه
« شمس الدین کاکړ »

د زړهٔ و یښي مي پهٔ کومه درشتي خوري    هغه شونډي چه پهٔ شهد و شکر خوږ شی
بېلتانه مي هډو پوست هسي وچ کلک کړه    د یار لاس مي پهٔ وهل د خنجر خوږ شی
« شمس الدین کاکړ »

د هند بار را نه آهسته و وره!    یار مسافر دی د ربېره بي ژ څوره
د سایي گل ؤ پهٔ نازلوی شوی    و تلي نه دی هرگز له کوره
« شمس الدین کاکړ »

د هجران له ویره غمه ولي نه مرم    له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی    د دي دهر له ستمه ولي نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی — له دې هسې صبحدمه و لې نه مرم
چه په لټه گرمی شا کاندي و گل ته — له دې بېو فا شبنمه و لې نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه د جدائی — د رسته شپه بخو به دا -مان ستوری شمېری
خو شحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ — سرو مال په نا عاشقان پلوری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور و نه — یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ
ته که نه رادرومې گاهی گاهی په خطیار کره — نیم ملا قات و ینم ستا له لوری په کاغذ
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې — کله کله یاد کره خیل غمخوری په کاغذ
وران به هر گز نه شی کښېلی توری له ازله — هرزمانی که سترگې د چا اوری په کاغذ
ستوری د طالع هم له جبینه معلو مېږی — څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
مه گوره یې خط قلندره د یار مخ ته — بی تورونه ندېږی چه څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ١٦ — ژړا

که گرېوان مې د سپوږمې د نمر مشرق شی — زه چه یار په سترگو نه وینم تورتم وی
در حمان خندا په اجر د ژړا ده — تازگی د گل په قدر د شبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی — که دوینو په ژړلو کرم اسمان دوب
«عبدالرحمان مهمند»

بی دردان ئی لاس سرخی د شفق بولی — که په وینو کرم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په خبر ژاړم تر صباحه — ته د صبح په شان خاندي له غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامې شوه تازه دزړه داغونه — لکه تل چه شبنم اوری پر وینو
حما دیار په زړه کښ جوروستم نشته — در وی ئی سپی رقیب را ته پرینږو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده — بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که فریاد په زوره نکرم زړه مې چوی — که په زوره ناري کړ مه رسوانی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هر سحر سترگې د گل له اوښو ډکی — په داباغ کښ ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادر ختك »

روهي گلونه ( ٥٢٥ ) ب: سردار محمد ج: گل علی خان ر: عبدالغنی ن: رجب علی ه: اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ٧-١١-٣٢٥ ع

## ۱۷ ـ اوښکې :

څه اثر به زما اوښې په‌تا کاندي
لا تازه شي اور په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره اوښې مې بهېږي په رخسار
په گرېوان مې تل داوښو باران وري
چه غرقاب مې هم گرېوان دی هم کنار
نه ورکېږي درحمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې
څکه برخه مې ژړا شوه له الستېه
« شمس‌الدین کاکړ »

بیا کوم سترگې په اوښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وضو خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشي
چه خوا ونه نشي د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو اوښکو برسر پروتم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غوادم په‌او ښو پسې لحغلم
زخمی ښکار په پسل دوینو پیدا کېږي
« مرزا حنان »

## ۱۸ ـ غم :

غم دي هسې غلبه شو په ما باندي
له ځگروی‌نه‌مې نورخلق په‌عذاب شوه
زه دستا په‌غم کښې شمعې غوندي ژاړم
زړه‌مې ستا په اوری هسې او بزان دی
ما دي ستا داند ښځو په غم کښې سوي
داد ستور دی‌چه لوی‌غم په سری ورشي
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسي
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کې

چه مې ځای شي نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما په غم کښې صبح غرندي خاندي
لکه زلفې دي په مخ دی او بزا ندي
ددنیا اند ښځې واده لکه سپاندي
نور غمونه ئې همه شي تر پښولا ندي
بیا دي‌ستا په اوری درومی‌له ماوړاندي
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

هسې زه یمه دیار په غم تازه
سترگې وخورم که نې وچې کړم‌له نمه
زه به څه کړم دچا چارې بې دیاره
دیار نوی‌نوی غم زېېزوی وصل
که‌دي‌زړه‌له‌غمه وچوی دلگیر مه‌شه
ښایسته‌یاران گلونه دی رحمانه!

لکه وی هره گیاه په نسم تازه
که مې شي په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رخوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بیلتا نه‌کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره
قسمت هسې له ښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر ختک »

تل مطیع الله ځکه سرور په دود نه مي کا
دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مي په خاطر کښي محکم بیا موند
په کعبه کښي مي صیاد د حرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښي
رکالا پا نسی بندی یم د انګریز
« عبدالله یوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
پسر چمن نه دی خاطر فراغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وینو
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زماز دی هغه پری سوځی
ځکه مي حیران شوو علاج و ته طبیب
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښ
هر څوك زدی کوډی په مخکښ دبانېز
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
ګنه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
بې هنره سپی رقیب هلته څه غوښت
که ویارته رسیدای شوی په هنر څوك
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم
پری برئې نېږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

ماقبول د رقیب ناز کړ ستا دپاره
سوداوزیان په دا جهان کښي خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا دعشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
هم په داچه نوشته په جګرخون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له میو
چه ئې خاوري د فرهاد و دمجنون دی
ددنیا چاري همه واړه فانی دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
چه په سره کفن له مځکې رابېرون دی
در جهان دزړه خوناب مګر قبول شو
چه مخونه د دلبرو پړي ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غوادم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مي پیاله تورو ستر ګو سره جنګه دی
پرلبانو ئې دزړه دوینو رنګه دی
که پر هکری سر په لاس ورلره راشم
لا په دائې باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګیسو دې سنبل پاڼې
ښې ددې دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر ګو کړې خونه
ژبه دې شکرې ده د ننه په زړه پاڼې
هیڅ پرې نه بو هیڅ زم دا دې زنه که مڼه ده
خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې
« خوشحال خټک »

کنډه ولې د دوا دو ستر ګو ستا په طمعه
وهر لور ته مې نیولی کور په کور دی
چه مې خیال د تر کوو لید و په زړه کښې
د واړه کسې مې و زړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

ما په خوا ست وزاری خوله له یاره غوښته
ده په ناز لکه غنچه سره و نغښته
شه خو حال زما تر غوږه د یار ورو ړه
چه مدام لکه پرتا خواب د ناز با لښته
محبوبا پر پا انګک وا وښته په خوب کښې
که هو ستې ده د بهار پر ګلو ژغښته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی
پیدا شه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کاکړ »

چه له څنګه د ګلرخ مې اغیار کښېناست
په چشمانو کښې مې ګل عوندې خار کښېناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو
یا پر تخت د زمرد شهر یار کښېناست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کاباندې څه شوه
پر ګلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کومې له دوه وښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل
کومې له دوه وښه دی تور ګیسو که سنبل ګل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د ګلبدن ګریوان پاره شو
د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د ګلعذار
که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ
زړ غونه به مې لاله شي له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الیلونه شماری
پکښې پراته دی هزاران زړونه بلیبلی صنم
« میانعیم متی زی »

ګوتې تورې کړې په بای کړې دا بورې
زه حیران یم ستا د سپینو ګوتو تورته
« خواجه محمد بنګښ »

زه دریسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع
ته صبا خندان لکه ګل واز ګریوان دچاپې
« علیخان خټک »

يون ئې د تندرو، در بده ئې دی د سرو — پېر کوی په پلو کښې حمله ئې د سپاره ده

« عليخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غونو تل کړم — هم ګلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت

« مرزا حنان »

د ګلرخ په هوا در ستره شپه ر فتن کړم — د شبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم

« شمس الدين کاکړ »

او ښې در، رنګ ګهر با ز بده لکه لعل — جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته

« مرزا حنان »

د يار خيال ته مې خالی کړ د زړه غولی — مېلمانه لره تيار شی سرای د ستور دی

« مرزا حنان »

چه دې خيال په خاطر را شی مضطرب شم — لکه پېښ چه د مفلس کره مېمان شی

« مرزا حنان »

چه تا و وينم تازه غزل انشا کړم — پری بلبلې فرياد کاندی چه ګلعذاروی

« خوشحال ختك »

پر خپل ځای باندې ولاړ يم لکه شمع — تر غزل پورې رفتار کړم لکه شمع

« شمس الدين کاکړ »

وخت دی راغی دغه دا که فدا کېږی — شمعه پله شوه تازه پتنګه خوځه !

« جمعه بار کزی »

آفرين دې په ول ول تورو سنبلو — چه ئې ځای د پاسه ونو په ګلو

« خوشحال ختك »

## قبيح او مليح

که يو ځله ئې په سرور باندې کښېنې — رنځ د هجر به شی دفع د بيمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوزنه شی — د بانو په ستنې ستاد يو نه دې خار

« شمس الدين کاکړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستايي بوديې نشته — په جهان کښ که باقي دی خو اخلاق دی
« خوشحال ختټک »

په خو يونو کښ ډېر فرق دی — که سړی پري خبر دار شي
ځيني هسې خوی آغاز کا — چه خپل هم ځيني و بېزار شي
ځيني هسې خوی آغاز کا — چه پر دي ئې خد متګار شي
که څوک خپل خصلت دښو کا — تر سرو زرو به ګرانبهار شي
« خوشحال ختټک »

ثنا د ګل شي له ښکلیه بو يه — صفت د مرد شي له نیکه خویه
اصل به نه کا ستا ينه هيڅوري — د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختټک »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وي — په تحقيق هغه ارذال الناس وي
شرف په خوی دی په ديانت دی — که څوك شريف وي يا څوك کناس وي
« عبدالقادر ختټک »

په ښه خوی د سړي قدر قيمت کېږي — بد خصلت سړی ياديو دی يا پيري دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځني تښته ! — بې هنر سړی که وګوري لاشي دی
« خوشحال ختټک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږي — په بد خوی باندې خپل واړه شي سوا
« قلندر اپريدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل — نور د ګل په خبري پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

دښه خوی ګټه ده ډېره — له ګڼلو ترانده تېره
هغه څوك چه اخلاقي وي — د هغه نوم به باقي وي
که دچا اخلاق ښه نه وي — د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دين دی راغلی — پيغمبر دی یا څېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق — او پر ځای کی دا ميثاق
په خويو انسان انسان دی — که نه وی خوتش حيوان دی
مکارم انسانيت دی — رذائل حیوانيت دی
« عبدالکريم کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طرف پري سره ځمكه سره پنده شي
په نسب كه خان ، نواب قاضي قضات وي

لكه كښت لره باران اوباد په كار دي

٢ ـ په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسي
كړه ئې ندي بي حكمته

رب دي مه كړه د اخلاقو پله سپكه
بد اخلاق سړی نه ارزي په كنجله
« احمد گل اسلمي »

د عالم تولي په خلق په احسان شي
« خوشحال خټك »

په همت كښې هغه زه يم
زه خوشحال دده په كړه يم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروهي يكسر ننگان — په له بو باندي ځان ولي ښتنگان !
د كنجكو قدر يو ، د در ويل د ي — ننگيا لو سره څه ژوی بي ننگان
ار تگي د زړه دليل د جنتي د ه — د دو زخ دا ور لا يق د ي دلتنگان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا كا — په سپهر و ايرو لړ لي ملنگان !
نور ماهي ئې تر په تار دروهي له مخې — ما تو ی لو لې بيړ ی، نهنگان
دهاتي د پاسه سپور ورته پيكه وي — چه د ميو پيالي آخلي سر هنگان

څه د ځان صرفه اوس كار كوه خوشحاله
لكه كار كا پرهار ژاړي پلنگان

« خوشحال خټك »

چه په غوږو ئې روز گار هغه زمري يم — نه چه ولې ئې خوراك هغه منږك يم
كه عالم راته كل تا و كاغم مې نشته — په رښتيا ويل د دېرو پو ليو لك يم
په دانش په شعور نده په همت ده — چه دا هسې سر گردان لكه ښتك يم
هر ښتون چه د مغولو نو كري كا — كه د ی زر ، د هغو وادو بهترك يم
چه منصب مې د مغل خوږ يو ملك وم — چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
د فرمان د پروانې حكم ئې نشته — شكر داچه په خپل حكم په خپل وك يم
نهمې كار په خاص وعام نه په ديوان دی — نه په درو لاړ د هر يو ه مردك يم
نه تصديق شته نه ياد داشت شته نه توجيه شته — نه په فكر د سند نه د دستك يم
هر گيدی په چه له ما سر كوزی غوښته — د هغه د سر يا توره يا كوتك يم
ښتانه لره شري، اندېر مې بس دی — نه په فكر د مسند نه د توشك يم
آزادی ده په ساده سپينه جامه كښې — خلاص د غمه د زر بفت اود ميلك يم
د وښو جونگړي هسې راته ښې شوي — وايې ناست په محلونو د آهك يم
كه او گره د ښتو شته په شرو مېو سپينه — د مغولو پولاو پاتې دهر پري دك يم
چه نيولې مې داهود ننگ ونام دی — كه له خپلو هوده وا ودم كنيزك يم
په بل غشی تويك هيڅ ويشتلی نه يم — كه ويشتلی يم خو بيا په خپل تويك يم
چه شپېر مې ښی خپل وو كنډ كيرشول — پر وا دار په لنډو پرونو د بارك يم
د كريز بڼې مې توئي لكه باز كړي — گمان مه مكړه چه بې پرو ښا پيرك يم
تف په زيره د همه وا دو بار كو — لا زما په زيره هم كه زه بارك يم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی — زه خو بیا د سباکي انا خشتک یم
تن خو قام را سره ډېره جفا وکړه — کانده بیا د خدای و حکم و ته څک یم
که څه حق یا دنیکي یا دوروري شته — و یا داش وته په طمع د هر یک یم
مهمندي زما د کیڼې لاس او پښې دي — راضي من دافریدیو یو په کومک یم
ډېر چینی چه تراوش وکا دریاب شي — چه ایده شم اوس خود ایم یو بولک یم
کړ لاني څړ بسنی خو چه پښتانه دي — زه د ننګ په کار دواړو مشترک یم
که مې عمر په شماره تر شپېته تېر دي — لا په کار د سواريء لکه از بک یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره — ننګیالی دزماني خوشحال خټک یم
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تېشه د فرهاد شه ده — تر هغه چه ناهموار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشي د حنا وینم — خو ش په طور د مک بې دست وپا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل ګردن زده — حوصله دي په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر — که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم — په شاهانه شان و فر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه — دون همت اندېښنه مکړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمري په خوله کښې ور کا — خدای دې نه کا چه عارف په کښې غارت شي
« خوشحال خټک »

څه هغه شهباز شه چه دې ځای په سردرو وی — نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم دبښ کړه
« خوشحال خټک »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله — که د چا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټک »

سردې دروملی مال دې درومی پټ دنه ځی — د سړی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندی — په جهان کښې لو یه بخره د همت ده
« خوشحال خټک »

علم تا بیائی به پورته جهل تا بیائی په ښکته — یا عیسی اره وردرو مه یاقا رون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی — خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

هغه ژیست چه د عزت له مخه نه وی — چه یې کا به هغه ژیست پوري هکې پکې یم
او دیې پوری په منصب په نوکری شه — چه تر فهم و تر نظر د مغل ککې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام و ننګ چه را شم لیونی شم / خبر دار کله په سود او زیان دلکه یم
چه په طمع د اوږو زغلی و شست ته ! / ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پوری د هیچا چاره نشته ! / او که نه تر زاړه ذئب لا زیرك یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی / نه چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخورکی یم
« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دی په همت شیدا ختکه
« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره دباز غوندی پرواز کا / بیا به وانی د خوشحال ختک پرنشته
« خوشحال ختک »

ساقی جام دمیو مه پرېږده له لاسه / خو دعقل خه زده وی لا به مست کښی
د بلند همت کښی پورته پورته درومی / ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی
« خوشحال ختک »

چه همت د سړی څو قدری هومره / د آمیز په تله هر سړی تا له شی
دولتمن سړی هغه بللی بویه / چه له سینده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال ختک »

نوره پښتونخوا په ځای میشته ده / خو یو زه دی زمانی په کښی منصور کړم
که یی درست دې تو زور راته ښکاره کړه / نه به بیا په قوم کښی کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می چار وتلی تر دوه پښو دی / مګر لوی پاڅو پیداشی چه یه دور کړم
مست هاتیان خونی زمری په زنځیر کښېږی / بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل آه می باور شته اثر به وکا ! / رقیبان به اور رلړونی دتنور کړم
یو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی / په دیدن یی له نشاطه نفور کړم
« خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه / چه محتاج دخیاط نه شی پیرهن ته
« کاظم خان شیدا »

د باښی دباز نصیب شوی تازه غوښی / دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کنندی
« مطیع الله »

وزی تنبری پروت په خپل پوز کی شه نی / نه په تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پولا و دی زهر شه که نی مومی / د محنت سوی سکرك د ساګی سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی په لوی دریاب کښی ګرزه / په بیله کښی دی زوال ویښم نهنګه
عاقبت به ککری ور پاندی کښیږدی / تر خراغ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پالنګ را سره نشته / داهم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
دغمزی په تیغ نی خوږ شه نی خوشحاله / مړ نسی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال ختک »

که غوټۍ پسې وهې په لاس به در شي    چا وی دا چه په دریاب کښ گوهر نشته
که د جنگ په کار کښ ډېر دی حکمتونه    خو صبا بېر نشي ز لمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهی لکه خور شید کړم    یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی    که علاج اسره مې را شی مسیحا هم
« خوشحال خټک »

را شه گوره نامردان بلا و هلی    د بېری میدان پر یېز دی لري تښتي زغلی
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه    کوز د خمکی د تلی په مینځ کښ هلی
مړ هغه چه نې نوم نه یې نښان شته    تل تر تله په ژوندون پاتې ښاغلی
څوك په خپل ښی کړل کاد اغزیو    چا په خپل ښی گډو نه دی کړلی
پسینه که نه هو مره فائیده نکا    چه په وخت کړ نه وکا بر آخلی
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی    رنج و گنج سره دا دواړه دی تړلی
« خوشحال خټک »

ښیا د د چاري په مصلحت دی    بیا د مړ د انو په ښه همت دی
چه سره یو شی دا دواړه نو که    واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مردان هغه دی چه همتنا کوی    دننگ په کار کښ چست و چالاك وی
کار چه آغاز کا انجام نې فرض گڼی    په زړه هم پاك وی په خوله هم پاکوی
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم    څه منت به دد و نا نو د دینار کړم
چه په وازه خوله مونده شی مه یې وینم    که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که دمځکی غوندې کوز په تواضع یم    په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې دتیوس دی ځان باز مه کړه    ځان په رسم د جانباز و جان باز مه کړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر لرینه    په ورو وچار و هیڅ کله کاته نکاندی لوی چاری
« عبدالقادر »

مردان هغه دی چه همتناك وی    په هره چار کښ چست و چالاك وی
چه غم پسې را شی پروا دغم نه کا    خوازه له هر چا په زیست وژواك وی
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو یه    ستا په سر کی یه سایه دهما خو ښی یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر به هسکو او    لکه موج نکړمه بیم له پور پو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی    صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته    زده بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ـ امید :

د شپې څښتن دې سحر ته ګوري
هېڅوک دې طمع امید پرې نه کا

ګونډې پسرې و خېژي د صبا ستوري
باران په تېز و کښتو نو اوري
« خوشحال خټک »

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

خدای په ځمکه کا مرغونه د هوا پیښ
« عبدالحمید مهمند »

دا دستور دی چه شپه و لوېږي په ځمکه

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

چه تر مرګ پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

هر ګره ګره کشا لري نیکبخته

نا امید له خدایه غوټه جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

د هوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې چرخ خوري پروایی نکړم

خود ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
ده هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټک

په رسي تر یاره هر چه د پرې اندېښنې کا

نورې کیسې پرېږده د عشق په توکل هسې
«خوشحال خټک»

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
د زړه راز و چاته وو وایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یوه ده

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال د زماني سره ساز نشته
«خوشحال خټک»

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

جمعیت مومي خاطر له توکله
«عبدالقادر خټک»

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستي وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوري
څو طلب هومره موندل دي په دادور
د عملو خوازه کله هغه مومي !

چه و تلی یې ددې خونې له ویشه
په غښتونی باندې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بېشه
چه حذر کا د مچې له بده نیشه
« خوشحال خټک »

عشق چه ډېر ولي بېهتېر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
ورو، ورو، په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټک»

هر مرغه چه د بل غوښې خوري مردار دی
د ذرې په خیر د لمر په طلب ګرځه
کار په تش لستوني نشي بې د لاسه
چه تقوی دیانت نلري رحمانه

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مه شه
لکه تیږه هسې پروت په زمین مه شه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مه شه
د دې هسې همنشینو نشین مه شه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منگولی نه کا ښکلی   هومره نه‌وی شربی غوښی ورته لمی
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا   چه قبول کاندی د بحر خونی چلی
عاشقان چه ترسره تیرشی هله ښکـل کا   د دابرو ښتی خولی لکه ښلی
بازچه والوزی له جالی هله گوری   د کبـکانو ښایسته ستر گی کجلی
چه داور بخری یاد سره رفیق شی   بیا هاله کا په ملکو نو لمبی بلی
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی   بیا هاله بیابی په میخ د بری خخلی
«خوشحال ختك»

* * *

په تحصیل پسی بی ځکه کوښښ بویه   خپل هنر له لاسه مه پریږده خوشحاله
«خوشحال ختك»

چه تورده ترخه قبول لکه دریاب کا   هم هغه د قیمتی د ر و مـاب شـه
چه لمبه بی د آتش کره په ځان تیره   له هغه پسه د گلا بو گل گلا ب شه
د کمال کسب پـا په دسعا دت ده   هغه ښه چه د کمال په اکتساب شـه
ته هـم زده مراد وغواړه لـه عمـله   چه په علم بی عمل و کړ کامیاب شه
«خوشحال ختك»

ښادی عم غونډي آسانه موندنه شی   سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندي چه گرزی   یو زمـان قراری مـکړه لـه طلبه
«عبدالقـادر ختك»

له آزاره چـا بازار مو ند لی ندی   له انگـاره چـا گلزار مو ندلی ندی
تلوار مـکړه په خپل وار به برخه درشی   بی له واره چـا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه   له گفتاره چـا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کـار کوه کـار په کـار هم کـار دی   تاوان په ځان باندي خالی گفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی   گو تره گوبکه طوطـا طرار دی
«عبدالقادر ختك»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندي   عمل هم ورك شو په مخکه باندي
او س په خبره بروك و بل دی   دا بیت بازی دی عـالـم یی کـا ندی
«عبدالقادر ختك»

کله به لا دروم لمبای دسحر خوبه   خوب بیغمه نه کا چه په مخکښ بی منزل دی
«عبدالقـادر ختك»

چه منت په ځان قبول کاو راحت شی   چه عارف د مصیبت شی عـافیت شی
«خوشحال ختك»

٦ـ صبر او استقلال :

غښی چه د بز ولی ښه تیر انداز شی   چه مشق دخط کړی و خط ته ساز شی
کـار د محنت دی د مشـقت دی   ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال ختك »

مړ تيې د هر چا نندی سره سمې
ته چه لافی د مردانو د میدان کړی
که همه خلق یی سنز شه یخندنه

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی
مردی یی هیڅ ده و زما په بو هه

اضطراب به دي خلاص نه کاله نخانه

په تاکه راشی خاد نه لو یه
نه به یې دفع په صبرو کړی

صبرو نیسه په تنګښی که مراد غواړی

ای حنیانه صبر وکړه مراد به مومی

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی

دا تا یی مه گڼه چه صبر نه لری
سړی د صبر به کار کښی و ازمیه !

صبر نکو سره جور فلك نه کا

ژوندی که گرځی خان یی ژړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی

شورش مکړه د گردون له کش مکشه

۷ــ د وخت اهمیت :

دو باره دي را تله نشته په د نیا
هرڅار چه تروخت تیره شی عنقاشی
تر ورخ تیری او به بیرته نه جاروزی
تیر ساعت په مثال مړی د لحد دی
هره نیږه چه صحیح گڼه به زړه کښی
په عمل د نیکو بدو فهم و گرانه
ځنه

دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »
چه‌غم‌پرې راشی په‌کښې خو شحال نه دی
که یی په‌جاه ودولت څوك سیال نه‌وی
« خوشحال خټك »
مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »
تپښته تسلیم صبر ته بو یه
نه په لښکر و په زرا و زو یه
« خوشحالی خټك »
هیڅ‌ـا کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »
د فلك زر نده په وارده پس ؛ پیش
« مرزا حذن »
چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »
چه صبر نه لری حکمت به څه لری
چه صبر ناك وی هر څه به بنه لری
« خوشحال خټك »
د فلك جو ر د چا چه سبکسا ر و
« خوشحال خټك »
تو ر زن د سر به وینو لړ لی دی
ظفر له صبر ه سر ه تړ لی دی
« خوشحال خټك »
او مه کلکه کا مرغی له اضطر ا به
« اشرف خان هجری »

نن دي وار دی که‌دروغ کړی که رښتیا
عنقانه نیلمی په دا م کښی د هیچا
نه جار وزی تیر ساعت به بیرته بیا
مړی چاری ژو ندی کړی نه ژړا
په غـر ور به هغه نیبه کړی خطا
چه به دا کښی دي بهبو د دی که بدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ورته وي

که د پېره سعیه کوښښ کړي څه شي
که هر څو مټ په پېړۍ ملاح کا

آبشاره! ولې دا هسې ژاړې!
که تل فریاد کړې به کاڼي سره هې!

کړل دې ویل دي دوه ورځه اوان لري
چه کار دنن ورځې پرېږدې صباته

٨ - زړه

ښه سړي پردي په دلاسا په نیکۍ خپل کا

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان یکښې ابده شي

دواړه ښکو نه لکه تن دي
زړه بې چون او بېچگو دي

خودي زړه خاندي خوله دې خندا کا
مدار ده ري چارې په زړه دي

د ناز کډلو اطو ار مشکل دي
هم بې نښته گنډل یې هم لا

مېړو سو ځه یه اور کښي شراب وځیه

که هزار ځله تقوي په هېڅ آکاري کړي

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دي

چه ذزړ قو د نیا ځلو . پروا وي

و گوي و ورځه کاروونه خپل کا
څو کښې چه آرام گتي د ښکو ناما گتي

د هغه عالمو زړه پري د و ښکو دي
« عبدالرحمان مهمند »

په وخت چه نکړي بې وخته څه شي
په ژانگي چه کښېبوزي پوري هاله شي
« عبد القادر خټك »

له چا فریاد کښړي خوك پسې غواړي
بیانه ر انشین او بـه نځـه لاړي
« عبدا لقادر خټك »

چه وخت بې تېر شي افسوس ار مان لري
هو ښیار به نه وي دا خوي نادان لري
« خوشحال خټك »

کومه ښاغلېاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »

ده رچا زړه مر آت دي صفائي وراره بویه
« خوشحال خټك »

کار د تن جوړوي زړه
خوك دا غمو ښه گڼي زړه
« خوشحال خټك »

چه زړه دي ژاړي ستر گي ژړا کا
زړه دي مفتي دی هر ه فتوي کا
« خوشحال خټك »

په دا به پوه شي هر چه عا قل دي
که ز خمي شوي د مینا دل دي
« کاظم خان شیدا »

در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

ښه دي نشته چه مدام دل آزاري کړي
« عبدالرحیم هوتك »

زار ذازار جوړ و چه د زړه په بازار پلوسي
« دالپوري حافظ »

تر و که زړه د سړي پوسي څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »

مردان هغه دي چه کار د پل کا
د خو ز و زړ و نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی واړه مړو نه ؛
نه سره سم دی ډېر چا ژړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشی
که پاتې راشي هزار غمونه
«خوشحال خټک»

مرهم په زړه‌زده پېر هارونه
دا نیا به ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه
یکښې به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال خټک »

زړه دی دهر چا سره صفاوی
په‌چا ګرم مه‌شه که‌دي رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا
انده ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال خټک»

## په‌بدن کښې دزړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی
هر اندام دده سپا دی
قول دده فرمان برداردی
دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یی مسخر دی
دده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی
لاس نیول ، ستر ګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده
چه کوچنوټي یی جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی
چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد :
تمامی په زړه بنیاد
ته مدام اصلاح درزړه کړه
په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده
د ګوهر و خزینه ده
ډیر پکښې دی جواهر
قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی
د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یی معرفت دی
زیات ترنورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه
واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده
د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یی ده ساتنه
له جمله ؤ غلو رهزنه
چه دښمن یی تالا نه کا
جواهر یی یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی تورمژګان په‌نم‌دزړه
نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته
څه‌پوهېږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوادیار له مخه
ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یې‌عرش او کرسی لاندې‌ترقدم‌دی
بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اویه
که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ږدی په مځکه
مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکې‌ترمیان‌دی
یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بی‌یاره
چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان ډیر دی په دنیا کښې
ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای دشکر شکایت کړي! — منکر پېژي به عطا د سبحان و اې!
در پېژنلي خدای دهري چرې توان دي — په هر توان کښې خپل ځان بولي ناتوان ولي!
زړه دنفس په پیروی در ځخه لاړو — د خبیث په لاس دې ورکړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره! — خو یو مه کړه آزرده دمسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دې له ټوره زړه بیرون کا — یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوك مړي
جمعیت چه لدنیا په نیا غواړي — هغه غړي په معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هرخوك چه یو کا زړه خوله خپل دواړه — دویم په نیت شي ثابت له واره
که کمي ورغي په دین دنیا کښې — تاوان یي واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادي چه یي ساتل نکړي — ویره مې کېږي چه یي دبل نکړي
که دادې خوی دی دادې خصلت دی — خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا نه کېږي — نه کړه دعا ګټه دعا قبلېږي
ازار د هیچا د اخستو نه دي — نه پرې د خوږ و زړو نو لګېږي
« خوشحال خټك »

لټو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې — پروا نلرم د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښي یو وار بسي ولاړ نې — لکه چیرته اښکر دروی د سلطان دوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی — بیا مشکل دی رغول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښي »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی — چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلوقاتو کښې انسان دی — په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یي مه بوله بېحده مشرف دی — چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی — چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هرڅو یي صفت وکړم څه به وکړم — چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بېحده عالي شان دی — چه تر هر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دربار دی — چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالي به نیشکر ورسره کاندي — چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولي په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه پري رو ښان دی
هيڅ اشيا يې لـه فتره بېرو ن نـه دی
زه نبي به يې نـن کم هنر بيان کړم

چه مقول دخدای په در دی هغه زده دی
چه دا هسې بلند لـمر دی هغه زده دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زده دی
چه منبع د هر هنر دی هغه زده دی
« عبدالنبی »

دلجو ئـی به دي تمـام و ګړی و کړی

کـه ته هم د د لجو ئي په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مانه په زده کښې ياد کړه
زدو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

نه خو د ي لا س د ستي مر و ت د اد کـړه
آز اد بنده کړ ه بنده ه آز ا د کـړه
« عبدالقادر خټك »

۹ ــ ژبه

نولا دي تو ره وی که اويه تبه !
ډېر يې بلا به د ر خخه وا وړ ی

تر دا لا بـه ده بد ګـو يه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

پهواك چه نه اري‌په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـك شی ښه دی په لويه تبه
ايمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مړی ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر اـري

چه خولا پري خپل کـړیزما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سيـا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر خو ښـر يي تـر صحبتو نه
لا به يه ژ بـه ښـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصا حتـو نـه
د ژ بې ښ يـر د ی قبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عا دت کـړه په ښه و يلـو
که‌يی عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه دي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره‌روغ مشه

هغه زده‌چه پکښې تيغ دژبان کښېښي
« پير محمد کـا کړ »

په‌مجلس کښې‌دمهرويو ځکه‌زاږی

شمعې هم ښکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله يوپلزی »

هر سـړي چه شی ګـويا لکه قلم

سر به يې شی له تن جـدا لکـه قلم
« عبدالله يوپلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بې به قفس کړه
« خوشحال خټك »

روهي کلي ۴ (۵۲۹) ب سر دار محمد ح - اج الدين ، محمد امين ، ن رجب علي ، ۵ اجرائيه پښتو ټولنه ۳۶ - ۱۲ ۴۲۵

سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه
که جرس رنګه نه کړي په غوغا ژبه
«ملاجمعه»

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو د جمال وانه خیست
پښتو لا هسې بکره پرته ده
«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې څیر کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال خټک»

جنګ د هاتي او مزري آسان دی
د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه
هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال خټک»

که څوک نېکان دي که څوک بدان دي
په دا دنیا کښې چه په هر شان دي
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه
نه به یې څه کړي چه د خپل ځان دي
«خوشحال خټک»

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړه کښې
راز به نه وایي اشنا ونا آشنا نه
لنډ او ډېر ویل به نه کاندي بې ځایه
هیڅ باطل ویل به نه وایي و چا ته
«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو
خبرې ښې دي ښه تر شکرو
د خوند مثال یې شکرې وایم
قدرې ډېر دی تر مرغلرو
«عبدالقادر»

لکه وهي له میدان ګوی دا څه ژبه
نه یې شي وهلای په تېره کړې شمشیر ګوره
«عبدالحمید مهمند»

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه
فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
بېخوده پر پوزه باده نوشي کړه
«خوشحال خټک»

سخي یې مه ګڼه چه نغن یې خوار نه وي
پاتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي
که دانشمند وي تفسیر په یاد لولي
چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وي
«خوشحال خټک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر
دانا تل ځکه په خوله د غه خاتم زدی
«عبدالقادر خټک»

د میرو میره د خانو خانه
د جهانبانو جان او جهانه
دا رنګ لوی به هاله روزي کړي
که وي نېکنیته او نیک زبانه
«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری — سیلاب تش لاس دی سیند امن پرلری
د سیلاب ګټه د کاڼو د که ده — بحر په ګټه کښې قیمتي در لری
«عبدالقادر خټک»

له خامې جوش وخروش ځېږي له دېګه — دی له خیلې پختګۍ پختګان چپ
په ابو بهدې ډېوه شي د مراد بله — که صدف غوندې په صبر کړې دهان چپ
چه دانه په خاورو پټه شي خوشه شي — په کو ګل د ننه وساته ارمان چپ
د بلبلو ناري ښې نه دي پر ګلو — چه په سر ولمبو کښې سوځي پتنګان چپ
لکه کاه او کهربا چه سره بولی — هسې پټه خوله بلل کاندي یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل د حق کوه عبدالحمیده! — که په ژبه اویزان شي لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا د زماني کوه عظیمه! — مه له خولې نه څه وباسه مه څه وایه
«عبدالعظیم رانړزی»

صاف دلان له ګفتګو په خفه کېږي — شي نفس د آئینې پر مخ غبار سخت
«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص — چه جهان واړه غلام دی د اخلاص
که له ځمکې نه اسمان ته ختاته ګران دی — د اسفر په یوه ګام دی د اخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه — دا همه واړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی — لکه عمر چه مدام دی د اخلاص
بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص
څه عجب دی که مستان وی تري چاپېره — هر ساقي څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام نښلي — هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
د رحمان کلام په د اسبب شیرین دی — چه یې هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هر باغی یوزې بنده کاندي اخلاص — هر بې شرم شرمنده کاندي اخلاص
آب وتاب یې عالمګیر لکه افتاب شي — هر جبین چه تابنده کاندي اخلاص
هیڅ پروایې د حیوان په اوبو نه شي — هغه زړوی چه ژنده کاندي اخلاص
هیڅ مقراض یې غوڅولی په خوله نه شي — هر پیوند چه پائنده کاندي اخلاص
هغه کار چه سحر کړ کاندي په سحر — تر هغه یې څوچنده کاندي اخلاص
سند لاسه زوړ کافر د دلو کا او — واسلام ته خواهنده کا ندي اخلاص
د نفاق له اهله ځن ژغوره حمیده! — په لباس بهدي ګنده کاندي اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

هر باغي او هر سرشوخه هر بي شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نيکو نوم په عالمګير لکه افتاب شي — هغه څوك چه هميشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپي تياره به رڼا اور ځ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښو لسره راتقي ملامت يم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدين کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز يه — هوښيار په څه يي و ماته وايه !
هر چه هوښيار دي هنر يي دادي — خبره نه کا چا ته بي ځايه

« خوشحال ختك »

د باد شاهانو به راز خبر مه شه — که پري خبر شي ځان ته غاورمه شه
رازيي د زړه په صندوق کښي وساته — په ښکاره رول يي چا ته لر برمه شه

« خوشحال ختك »

که چا ته و ځکري د زړه خبره — تا کبه پري و کړي چه وبي نغره
که دي خپل ځوي وي ګمان پري مکړه — چه به يي نه کا چا ته ظاهره

« خوشحال ختك »

که ښځايه زر کي نه وښکي آواز — نه صبا د ځني خبر رو ، نه شهباز
سکه له دي خبر پهسي معلوم ېږي — چه خپل صوت دي هر سري له غماز
د منصور وحال ته ګوره حال ئي څه شو — خداي دي فاش د هيچا نه کاندي پټ راز
در يغه در يغه که وروستي عقل د ومي واي — د انجام خبر ي نه شي په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولي نه ئي — دا د شعر دي رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مايو ښتي د يار له حقيقته — څوك د يار خبري کاندي واغيار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت د ښکلي و عام په وخت د خط شي — کم فوت سړي له هرچا سره راز کا

« عبدالحميد مهمند »

ځاي په ځاي به ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښيه مزدور ته

«عبدالعظيم رانړيزي»

هوښيار به هر کله زمانه سازوي — په داناني به يي د کار اغاز وي
نادان به هيچيري په داخبر نه وي — په هرهر کار به يي ښکاره راز وي

« خوشحال ختك »

زړه ښځايه مه را باسه و بازار ته — وايه نشي په کوڅو د خلوت راز

«عبدالله بوپلزي»

منصور راز ظاهر او سوئي تهوخوت — د خلا خبري کله په ملا شي ؟

« داليوري حافظ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- زر:

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څمکه څه‌چه د آسمان ښایست په‌زردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور،قوت،حرمت‌هوري‌درومی‌چه‌زروی
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښی

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

که‌هرڅومشکل کارونه درته‌پیښ‌شی
ماچه ولیده خوازه دی په دنیا کښی

که‌پښتوی په‌اوریخ کښي‌هم‌ترمیاشتی‌امرتېری کا

زردی‌چه ز پرمه دننگ وشرم کا
ډیر گران کارونه‌په زر آسان‌شی

زردي هرچاته أعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا

بادشاهان ښه‌دی په‌خوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو ډیر گران دی

زرپه بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

چاومانه نصیحت کړ چه زرښه دی
چه‌په کور کښي خزانې لری دزرو
هرپادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هرسړی‌چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی
په‌امثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
گوره مادهغه څرنگ جواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویه نا دانه

تو پدر تو برا در تو پسر زر
چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی‌قمر زر
دهندو سره روان کا انبکر زر
دپادشاه په‌سر څوك كښېږدي‌افسرزر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال خټك»

څه حاصل كه بوعلی شی په قصو!
«خوشحال خټك»

فکرمکړه چه‌آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال خټك»

همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
«خوشحال خټك»

صحبت د هرچا و پلمه گرم کا
زرپه‌فولاد كښېږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال خټك»

معدوم‌موجود کا موجود معدوم کا
زرپه‌سندان كښېږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال خټك»

خوانان‌پري ښه کا چه‌ورته‌سر ښندی
یویوی و ښندی نه‌یی هریو ښندی
«خوشحال خټك»

هوښیار څکه ساتی زر
د نا دار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال خټك»

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که‌یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لنډکړدی
په‌معنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پري‌به‌بوه‌شي هرسړی‌چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

که هندوځځه انبار انبار مهران وی	په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره‌باندې‌دزروصندق بار کړی	خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یی دلویی وېنویه لاس کېښې	دهغه وجود پارس شو واده زردی
«خوشحال خټك»

ځکه‌نوم یی دزهب وربانديکېښود	چه‌دباد غوندي هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یی نه‌وی	په‌ځان مې ولید څه حال یی نه‌وی
که باز داواده هنر د ښکار لری	ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال یی نه‌وی
«خوشحال خټك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه‌یی وینه	دخاوند په‌لاس کېښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری	ددرهم خاوندان تل‌وی په ویاړونه
که‌درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی	پر ژرئ یی وی په خرو پېژندونه
که‌بیاي سونی(۱)وبولی خلق وایی	داوینا ده ریښتیاینه له ریښتو نه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره	نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه	ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ ه»

چه‌نبستگاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی	ترتازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❁ ❁ ❁

۱۳ ــ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا	آئینه دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی تر خپلوپښو لاندې‌ښاخونه	چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه‌نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی	چه‌یی نفس دخپل بدوته لېوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وته هوس کا	تر هغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌یکښې پر بوځی دامثل‌دی؛	چه وبل وته کوهی کنی وبال کا
دهغو په‌خونه پېښ جنگ وقتال شی	چه‌هوس دچا دجنگ و دقتال کا
چه‌له خپلو لاس و پښو شی بېمجاله	له‌غنیم‌سره به‌جنگ‌په کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کېږی بی خپلو	له‌لحده دااواز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې	زمانه به‌یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجوره هیڅ‌ساندہ خپله کړی	بلکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

(۱) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال · دوه نومونو ته اشارت دی · «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ١٤ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اگر دي      خاوري يې واده مښکې و عنبر دي
که سرای ونورو وته سنگبر دی      کانی يې ماته واده سره زره دي

« خوشحال ختک »

درزی لا گز لری مقراض سوزن لری      بوجمدر گوتی خو شحال خیرن لری
کوچ يې اسان دی مشکل هيڅ ندی      غم ديارا نو درد د وطن لری

« خو شحال ختک »

هغه ورځ دهجر غم لره سرا شوم      چه له ياره په ژړا ژړا جدا شوم
ماهله ماتم دځان و کړ په وينو      چه اتلك وته مې شاشو په ژړا شوم
اوس په څه دوطن کانی بوتی ژاړم      درخصت سلام مې کړی تري جدا شوم
بو ناوك مې په دل لك راووړله کوره      زارو جار مې دباغ و نه کړ خطا شوم
په محنت مې يو رباض جوړ کړ په دهر      لا مې گل بوی کړی نه ځني سوا شوم
شين فلك په خندا سور شو لههوسه      چه هوډی جبل په مخزه ورته شاشوم
يو پياړو په د کن نشبه چه مې دم کا      گرفتار په کنج و کاو داژ دها شوم

« اشرف خان هجری »

## دوطن په ياد

ستا دعشق له وينو ډك شو ځيگرونه      ستا په لاره کښې بائيلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړ گی زما فارغ شي      بې له تا مې اندېښني دزړه مارونه
که هر څومې ددنيا ملکونه ډېر شي      زما هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه
د ډيلې تخت هېرومه چه را ياد کړم      زه د خپلې پښتو نخوا دغرو سرونه
در قيب د ژوند متاع به تار پتار کړی      چه په تورو پښتنا نه کا گذارونه
د «فريد» د «حميد» (١) دور به بيا راشی      چه زه و کاندم په هر لوری تاختونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خوا يی      زما خوښ دی ستا خالی تش د گرونه

(احمد شاه بابا)

خوار غريب او بېنوا وای      خو وطنه ! ستا په خوا وای
وا ته غواړ مه له هنده      چه وطن بسر خه زما وای
خو ژوندی يمه تر مرگه      هم هاغه آب و هوا وای
مېشته خو ښ يم په وطن کښې      نه چه هند وا ړه زما وای
نه دي هند شی نه دي نوم شی      هما غه بېد بېد يا وای
چېرها ر کښې کلا شيخ وای      رزق الله او مشغو لا وای

« خواجه رزق الله »

بې وطنه نها پروت يم په غربت کښې      نن له ما سره همدم د صنم غم دی
دهوا داشنا په ستر گو لېده نشی      که په خوب راته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو      سلام بادرا رسوی منت يی تم دی

« اشرف خان هجری »

---

( ١ ) فريد : شېرشاه سوری . حميد : سلطان حميد لودين

پښتنی جونه‌دې زلفې باد ته نیسی    چه شمال یې بوی راوړي په رنتمبور (۱) کښی
« اشرف خان هجری »

ښو به فخر د کشمیر په دوشالو کړي    ښو به خیال کړي په اطلسو د فرنګ
« پیر محمد کاکړ »

نسیمه ورشه د « سرای » سواد ته    له هغه پسه افضل آباد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه    د رود په وارو ګل و شمشاد ته
« کاظم خان شیدا »

که ګذر به خیر ابادو کړي نسیمه !    یادې ګېنت وشی د «سرای» د سیند په سیمه
په وار وار سلام زما ور ته عرضه کړه    ور سره زما د لوری‌ه خو تسلیمه
ابا سیند وته ناره وکړه په زوره    و لنډی‌ه ته وینا و وایه حلیمه !
ګوندې وی چه پیامې ستا سې جام روزی شی    په ګنګا جمنا به نه وو له قدیمه
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښی    ترې توبه که واړه ډك وی له نعیمه
خدایه‌زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې    داچه اوس ورځني لرې دی دوه نیمه
همېشه به په هند نه او سی خوشحاله    عاقبت به عاصی ووزی له جحیمه
« خوشحال ختك »

نورجهان سفر شو بیا ندې سرای دار القرار دی    کله به خوشحال دار القرار لره ور دروېی
« خوشحال ختك »

د خوشحال د زړه خوښی نشی بی سرایه    خپل وطن یې په هر چا باندې کشمیر کړ
« خوشحال ختك »

دهواد یاران می هر زمان یادېږي    چه‌ئی مخ په خوب کی ووینم ویاړم
«خوشحال ختك»

ښه په هند کښی چنبا ګل دی    تر دا ګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نه زده    په خوشحال دی ترفر خار ښه
« خوشحال ختك »

درزی‌لا ګزلری پیاتی سوزن لری    په جمدر ګوتی خوشحال خبرن لری
کوچ یې آسان دی‌مشکل‌هیڅ‌ندی    غم دیارا نو درد د وطن لری
« خوشحال ختك »

۱۵ ـ مسلمانی :

په دا دوه حرفه مسلمانی ده    هرچه نه پسندې په ځان په چامه پسنده
چه یې اوس به تولو نه مرېږي    همدا خپل دولت به وکایه تا شنده
« عبدالقادر ختك »

چه نه پسندې په‌خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان    همداده که ته یې ګورې په‌صحی مسلمانی
نیکانو سره زیست روز ګار په مهر و محبت کړه    بدانو سره زیست روز ګار هم بویه لسانی
«خوشحال ختك»

په قوت به داسلام کړي    د کفار انکار غارت
« دولت لوانی »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

دمسلم نښانه داده که یی و ښي — چه اول په شریعت دي استوار شي

« مرزا خان انصاری »

پسه مسلمو کښی خاصه مسلم هغه دی — چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا

« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۶ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وگورم فریاد کا! — پوزه نه‌یم د جهان دی سینې خوږي

په‌جهان به‌هیڅوک نه‌وی چه آزادوی — ځني‌عشق اندو بنده کړه ځني لوږي

عقل وهوښ یی‌وړی وته پیدا کړ — داچیچل‌دادل دیرانګ دی یادیږي

«خوشحال خټک »

چه‌سړي شړومی‌یی چښم‌په‌وخت‌داوړی — بادشاهی داورنگ زیب زماه غړکه

« خوشحال خټک»

دحاتم دسخاوت خبري مکړه — لا یه دا کښې هم د طمع نښا نه ده

« خوشحال خټک »

که‌یی ته‌یه منت موږی وایی مخلمه — که‌دچا په‌باغ کښې بوټی د کیمیاوی

« خوشحال خټک »

دمغل‌منصب‌می پرېښودهسې خوښ‌یم — لکه‌خلاص داویه بنده بند یوان شي

دانا دره عقیده لکه زما ده ! — لا عجب که‌بل پیدا هسي افغان شي

دمغل وته‌به‌هسې کار بنکاره کړم — چه‌راضي راځني‌روح دفریدخان شي

آزادی تر باد شاهی لاتیري کا — چه‌بل د حکم لاندی شي زندان شي

« خوشحال خټک»

چه‌نوکری کاڅوک ډېر گنده کا — سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا

تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته — چه‌څوك په‌کور کښې خپله دنده کا

« خوشحال خټک »

طمع بلاده اصیل بنده کا ! — ښه ښه سړی وی دائی گنده کا

ماډېر لیدلی دی چه‌طمع نه لري — په بادشاهانو پوري خنده کا

«خوشحال خټک»

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم — که‌خزان را باندې را شي که بهار

«رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سرته — لاس په‌سرمشه دهر گیدی ودرته

په‌نظر دهغو خاوره سره زر کیږی — هرچه نه لری نظر و سیم و زرته

بی‌منته جام دزهرو خکلی ښه دی — نه هغه چه منت بارشی و کوثرته

دیوسف له حاله زده که دغه پسه — وایه حال د زماني وبرا درته

دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی — چه یی‌نه دی را ییرودی ځنی بیرته

که له خدایه دوي خلقوته مخ شي — له فردوسه به‌دي مخ شي و سقرته

همیشه به در په در گرزی رټلی — داستو گنځي‌ځای به‌بیانه موږی‌چرته

ددي سست بدن‌منت په‌رحمان باندي — چه‌له‌خپله دره تلی نه شي بل درته

«عبدالرحمن مهمند»

روغی کیلونه : ( ٥٢٥ ) ب سردار محمد ح عبد مجید ر محمد امین ن رجب علي : ٥ اجرائیه پښتو ټولنه لیل ١٩ - ١ - ٤٢ ع

ژوندګی که څوك یوهېږی حضور ده دی     آینده و رفته کله دچا یاد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحق سره دمدحې     نه مې زړه مومی اندوه دده له ذمه
دزلفینو تر حلقو دې عذار و ینم     که نسرین دې دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شا کړه وښا دهوو نه ښاد شوم     چه د زړه مرادمې پر ښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم کړزم     راضی من چه دازل دویش په داد شوم
چه مې طمع ددنیا ور څخه برې کړه     هغه کس که کیکاوس زه کیقباد شوم
ځان بازید ولی کاروه دیز پېد کا     له شیخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بیا په کښې بندی مکړه ترمرګه     احتیاج عظیم زندان وه ترې آزاد شوم
هم یې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو     د پرمین په وروستنی ضرب دفرهاد شوم
بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ     شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر ختك »

چه خوښ له ګمه دلګیرله خاره دی     عشق له دو بینه بې اعتباره دی
نه شکایت کړم لچا ، نه شکر     در دمی ا هیاره در هان له یاره دی
« عبدالقادر ختك »

له پېخونده آزادی شوه دسر وې     دګنی پخیر پخو بنده بندی بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزی تېزی بروت پخې ل پوز کی ښه نې .     نه په تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دې زهرشه ! کې مومی :     دمحنت سوی مکرك له سا کت سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سر کوز د همت نه کا     چه په داد ددهر بوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقیر دولت په مرګه هسې هوس کا     لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زینهار حلت په هسې ساعت ور کړه     چه دنیا وریانې نه وی و کفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری     لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزاده وی ترې قربان شه     باد شاه ن دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی .     چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر ختك »

## ١٧ _ انسانیت :

پوي اصل سره دوه او پامذ هبه     خدایه خه بنی آدم فریق فرینشو
« خوشحال ختك »

خلق ناديده دي پـه خبر و پسي تللي　　　چار ترعار فانو چه په حال دي پوهېدلي
دوه او يا مذهبه پـكښ هومره قيل وقال　　　واړه سر هوا په خپل مطلب پسي دي تللي
د پـردي كتابونه مشتمل پـه دېرش حرفونه　　　كل واړه كه گوري لـه الفـه دي نحوولي
سل پېـي سل سبقه چه يي مات په يوه ځاى كړي　　　سل به بـللـل نه شي سره يو دي ماليدلي
واړه نور ثمر دي هـم دننه هم د باندي　　　هر چېـرته دانوردي په هر ښهر په هر كلي
زه خوشحال ختك يم درندانو په مذهب كښ　　　نور ويلـمي نزده مختصر مي دي ويلي
« خوشحال ختك »

ب : بابيزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عدت لا ډشـي عـادت لـه سـړي نـه　　　خـداى دي نـه كاندي په بدو چار عادت څوك
« عبدالرحمان مهمند »
همېشه وي نرم چوب غـذا د كـرم　　　شيدا مشه مرد خالي لـه سياستـه
« كاظم خان شيدا »
هـر گي نـه وزي دخس لـه نامردانو　　　كـه همه لكه ايـري آتش نسب وي
« كاظم خان شيدا »

٢ ـ بي پته خويونه :

پـو چه ډېر خوري سوگندو نـه　　　بـل چـه ډېـر كاندي پـور رو نـو
آشنائي وړ سره كمـړه　　　دا بـي پـتـه دي خـو پـونه
« خوشحال ختك »

٣ ـ كوزتيا :

تر هر څه بد كجئي خطر دي !　　　كجي بـه نـه كا چه دانشور دي
الف چه سم شي كجي پـسي نشته　　　ځكه تر نورو حرو فونو بر دي
« عبدالقادر ختك »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بد بل پـه نامرا دي كښ مرادغواړي　　　دا سبب گڼه دخپلي نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

چواړي د حلال خور پـه نامه بولي　　　لـه ښو خلقو بد گوئي نده ممكنه
تـه چه بـد لـه خلقو وائي زه و پوهېږم　　　چېـري خپلـه بـدي نكـړي معينـه
لـه هغو به به رومبي ستا عيب څرگند شي　　　چه هر چا و تـه دي كړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »
مـه پرچا غيبت تهمت وا يـه مـه نېلـه　　　مـه د بد نامـه په هيڅ بنـي آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېکاري :

د جملـه بـلاؤ سرتـن اسانـي ده — لټ غوبي شي خرڅاوه په قصابانو

فراغت د بېغمي په ملت کښ شته — خـه امید د بېغمي کړي ظالمانو !

« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېراحتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږي — زه له ډېرې هوښیارۍ نه لېـوني شوم

« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی — یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی

چه کله د اشي کله هغه شي — دا ناته کله مذبذبین ښه دی

« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصیات :

دزړه غلا په زړه کښ غم ده — لا په تېره د سردار

هر سردار چه په زړه غل شي — ځان رسوا کا خلق خوار

« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظلم :

بازچه وینی دځیگرخوري مرگ يې زروی — له دې وینو ځان ساته زما ځیگره !

که تر خه دی هم شراب دقهر نغره — ظلم وجور په چا مکړه ځیگر وره

« عبدالقادر خټك »

چه بېهوشي ډېره گېږه پسې نربلی — ډېر په ظلم کښ څوك به کوه گبر گوره

ماشي مړ کاندي هاتي چه سره ټول شي — په یوه وجود سې کې مه کړه ډېر گوره

لږي لږي او به تولېشي ملك وران کا — په لږ جبر چېري نه شي دلېر گوره

« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین چوده تری په هوا شول — چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق

بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی — خدای کړ پوره ادې باغه دمالدار حق

« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نکا چاته وازی دآزارخولی — دغه خولی ده په آزار کښ دښامار خولې

په گړ کښ بخته برج هسې میدان کړی — یا توبو بدی خولی دی یا دو یام خولې

د یوې خولې له آزاره وو پېر پښځه — که یمر دي دعا کا ندي هزار خولې

چه پېري راشي د مظلوم د آه سېلی — کاله خاورو ایرو ډکی د مدار خولې

چه قوصر د آه سر دور باندی لگی — ور به نشي د هغه چا د ډېر هار خولې

چه اثر د مسیحا لري یو دم کښ — خوږ وي دې هغه خلق پکار خولې

ورځ به شي د غم شپه پهغه خلقو — چه پیاب بې بد دعا که هر سحار خولې

« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یې سپین بشر په اور د ظلم
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
چه نهال د ظلم کښېږدی ځنی لاړ شی
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !

پـه لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس‌الدین کاکړ »

هسی خوښ د ظالمی په کار ولاړ دی

نه به وایی مرګ یی نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »

رسید لی تر مطلبه به خود نه یی

چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

۱۱ قهر :
ما نی مه کوه حنا نه صبر بو په

جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »

همیشه غوته جبین یی ډك له کینه

له خپلواڼو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »

د جهان کینی غصي واړه تر شا کا
دا پیدا چه خو د ببنی ور خ خه نشته
په کینه په حسد هیڅ د چا و نشی

که سړی په‌وخت دقهر مرګ تر زړه کا
د جهان ننداري ځکه دوه اپمه کا
هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

۱۲ ـ تعجیل :
دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا

په‌تعجیل سره نادان کاندي‌هم کار کج
« عبدالقادر ختك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره

تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبلزی »

۱۳ ـ حرص :
په غم د نورو و غم ته ساز مه شي
سړی په طمعه د بل بنده شی

سیك و عالم ته به خیل آو از مه شي
د عا به دا کړم اخته په آز مه شي
« خوشحال ختك »

۱٤ ـ کبر غرور :
دغه زور په چلوي تر کو مه پوري
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی

چه یوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
ما دا ستا دېر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
سبره ! هیڅ به تېتو و نو لو یی مکړه

په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
ستا به هم‌دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر ختك »

۱۵ ـ بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې
زر که ځکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به وکا زه له یاده د بیوفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه به وینو لکه ګل کړي
هم هغه به یه زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر خټك »

۱٦ ـ طمع :

خوك چه طمع له چا کا به حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټك »

نه دی نفس لره جلب د ورکولو
نور قیدونه و اده سهل د ی حمیده!
امو ختـه در باندي غل او کا سیر مشه
خو به غاړه دي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شی د حق پاتې
چه به خوله کاندي خوزه حلوا د طمع
« عبدالحمید مهمند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
هسې چاري به حرص در باندي و کا
عزت وسا ته به صبر که د انا یسې
چه به هیچا شو ي نه وی پتا به وایسې
« عبدالحمید مهمند »

کږدي زړه وي چه بدای شي طمعه پرېږده!
خو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یسې
« عبدالقادر خټك »

که یاس له حقه تحقیق حرام د ی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا
یاس له مخلوقه د حق انعام د ی
طمعه له خلقو د خلقو دام د ی
« عبدالقادر خټك »

شر موی هر یو سړی د د نیا طمع
دیبی توب نامه حاصل کا به دا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی
ښاخکی ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بو زه به مخ نه وی
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه خوك لوبې به خپله حیا کاندي
هسی ما و ته ښکار پېښږي دا ستا طمع
لکه یو سپی چه هیڅ نشتي اسل هغي
هسی ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه ده ښو نږدي اسي
چه به دا زړه له چا کا ندي بیا طمع
تل د خواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې
محمدی چه خوك کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخاوت خبري مه مکړه
لا پیدا کښې هم د طمعی نشانی ده
« خوشحال خټك »

۱۷ ـ ریا :

دریا عمل مې طوق شو را ته غاړه
لکه خپور شی به ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ـ بدي :

چه په بډو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

نور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومي
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومي
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه له ناپوهۍ پیدا کېږي
پېرزو، ښه سلوك، نمانځنه، او بل عدل
کبر جن حریص بې زړه چه دروغ وایي
که وعده یې قیامت وي د غو ښتني
که طالع یې د دولت په شربت ډك کا

خر خشي دعوي نا ـ ساري شر و شور
کهدي دا خویونه شته څه غواړي نور
د یاری لایق نه دي دا خلور
د هوښیار سړي به نه وي به کار پور
بیا آخر شي د کم عقل جام نسکور
« خوشحال خټك »

چه د خلقو نیکخواهي لري په زړه کښې
که بې غوږ د دانشمند په صیحت وي
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشي
د مردانو په معراج به ور تلی نشي
مختورن د دواړو کونو ندي څه دي
نیکبختان به اندیښنه کا ندي د نیکو
په هغه هنر کښې ټینګ او سه خوشحاله

مبارك شه بادشاهي لري په زړه کښې
څه عجبه آګاهي لري په زړه کښې
هر سړی چه تباهي لري په زړه کښې
که دسعي کوتاهي لري په زړه کښې
چه هر چاسره سپاهي لري په زړه کښې
ګمراهان به ګمراهي لري په زړه کښې
هر هنر چه سپاهي لري په زړه کښې
« خوشحال خټك »

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشي
د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده
نوراني کا هغه ځای چه سره کښېنې
چه په تشه تواضع کښې ګټه کېږي
که حاتم غوندي کرم کړي د مېړانو
خو بدانو سره بدشي هوموره ښه دي
که دي سرځی کهدي مال ځی کهدي نورڅه
په ظاهر باطن کفران د نعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شي مه یې آخله
که آسمان دي درمړی په خوله کښې ورکا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شي د څلور و مصلحت
دیرینه څلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوې دوړی په چا مه زده منت
ولې عفوه کرم ډېر لري لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولي نعمت
بې محنته هیڅوك نه مومي راحت
که دمرګ وته نژدې کاندي زحمت
دزمري په خوله کښې مه پرېږده همت
چه یادېږي د سړي د خوی خصلت
« خوشحال خټك »

خپل استاد و ماته ووې خو پندونه
وې چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دې زړه وی چه بدنه موې له چا نه

هر یو پندی مرغلري دي لا لونه !
چه دلاسه دې آزار شي دچا زړونه
اول ته پرېږده د بدو خصلتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهوت به غوټه مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نری ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه داهومره
هغه کار چه په ارمی تر سره کیږی!
وهغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو به مرګ ثواب ګټلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غابن پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی بري یی منږده
په خپلوانو باندي هومره خشم مه کړه!
د پاد شاه په مهر مینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا د بدی
په هغې معشوقي څه باور د کړو دی
د بیلی پانې خوره نه هغه پاستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه در پیښ شی بیړه مکړه
په رښتیا که په دروغوی سوګند مه خوره
د حرص سترګي مړي په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
د ښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني بریکا
که دي ورورو ی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض به کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران ته یی حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرګه بانګ کړی
هر چه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و د ښمن ته

پیدا اور د ډیرو سوی دی ګورونه .
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
ټل جهان و چاته نه پریږدی مالونه
ګټندي وی چه پداخیل کړي د چاز ډونه
د بخچی دنه ښه دی خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دي خربزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یونه!
چه پای سوځی له شامته غاړي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
درستم غوندي هسم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
دما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په ملکونه!
زورور په لنږ ګناه و هی سرونه!
و سیندو نوته تړل نه شی بندونه!
چه په هر لوری یاران لری زر ګونه
چه بی خوري د نو کري په خوشر طونه
غلیمان ور له بس دی خپل خو یونه
د ګلو بر، وته خوازه لری ګلونه
په تلوار، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیر خوری سوګندونه
چه په کور کښې دي انبار شی نعمتونه
ته حمار یې په تا اېښی کتابونه
نه پیدا چه پری لوټې پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لاري ترتا تېر دروهی ستاملونه
په خپروی کاږه کړه ور مخو نه
د هغو د ناستی تښته په کرو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرځونه!
لنږ و ډیر په زبان مه راوړه غمونه

به هر کار بهتر لاس بروی په ځوانی کښې
په ځوانۍ کښې چه د کار د لاسه ووزی
همیشه او سه خو له پښه لکه ناوي
تر هغه به نا معقول په جهان څوک وی
که خبره که خدا کړي جګې جګې !
که دي زړه وی چه پټ عیب دي ښکاره نه شي
که له تانه په قوت د متو زیات وی
چه تواڼېږي د هغې خبرې لاف کړه
چه د ښمنو کښې د جنګو خرڅېږي وی
که دی واوریدل چه بیا و بیله روغ شول
چه د ښځو نه بتر دی هغه څوک دی !
خدای هغه په دواړه کونه دی نما ښکلی
چه د زړه په تامین د هغو نازوه
د اصیل ښوه خپل اصل نه ابا س دی

که طاعت که عبادت که نور کارونه
په پیری به دی ونه رسی لا سونه
چه ضرور شی هاله و کړه دوه حرفونه
چه همیش به خندا سپین اری غاښونه
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
چاته مه شماره د خلقو پټ عیبونه
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
او که نه به دروغمه وهه لافونه
ته بی غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
نور به خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
چه به ورځ کا عدل وداد به شپه نمځونه
تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه
په زربافو کښې پالم وی پا مرۍ و نه
« خوشحال خټک »

په پیری کښې چه هوس دی د ناب کړي
داسته ګناه کوي توبه و کاږي
علم و کړي بیاعمل و رباندې نه کړي
په شپه پروت بی دهقان په میخانه کښې
له خالقه دي نه شرم نه حجاب وی

بیهوده ګمان به صبح د مهتاب کړي
لکه بت هسې په غټو سترګو خواب کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
او د ورځې مخ به لوری د محراب کړي
له رحمان ګوښه و نیسې حجاب کړي
« عبدالرحمان مهمند »

کړه ګیلو کړه چه سینه د ګلزار شي
ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه
کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښې
ته چه هر چا ته بخوارو سترګو ګوري
آدم زاد په معنی واړه په صورت دی
که ته نه کوی نظر د چا و عیب نه
د متان کړیه لوړه مځکه باندی هکا
د مات لوښی او از کله ثابت خېژی
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
مدا ماچه لکه باز غوښې د قام خوری
چوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئي
فکر و کړه وخت کو ته دی و به لو یږي

اغزی مه کره په پښو کښې به دی، لاړ شی
چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شی
چېري ستا به د کوهی په غاړه لار شی
لاړ به ستا صورت تر خاور و خوار شی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شی
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شی
سر کوزی کوه چه پټ دی مرغزار شی
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شی
حق باطل سره جدا کړه معنی نغاړه
عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه
نن صبا دی ابادی و پنم و یجاړه
د د نیا پر لاندې باندې ولاړه !
« مرزا حنان »

نن چه صبح‌دی رو شانه لار صحیح کـا    نـا گهـا نـه بـه دا صبـح شب تـا ر شی
لنړه ئي مه کړه هر څو که ګناه لنړوی    چه لنړ لنړ و سر ه جمع کړی بسیا ر شی
که بل بد کا نـدی تـه‌ئيه ورسره و کړه    هر یو نخل چه میو ه لر ی سنګسا ر شی
تـل و ښـو و تـه آ زا ر د بـدو رسـی    هر چنجی و نرم چو ب و ته دو خا ر شی
هغه زده به له طو فانه پـه اما ن شـی    چه کشتی غوند ی د خلقو بـار بردا ر شی
خدای دي بدله لاسه نه کـا او که وی‌هم    در حمـان دي لـه کـل بد و استغفا ر شی
« عبدا لرحمن مهمند »

اي مـدا م د بـل پـه کمه روا دا ره    نیـکی نـه کوی بـدی لـره تـیـا ر ه
قدم منږ د ه پر عـا جز میتږ ی په ظلم    نـه چـه دغـه پشه دی و مبتـلی لـه ما ر ه
هر چه‌ودی صباح‌بي راودی‌لنړ که‌ډیروی    دا چه نن یی پستم ا خلی لـه خو ا ر ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدا ی ښـائی    چه رانده پدا شیطا ن شو له در بـا ر ه
تـکیه مـه کوه پر مـال فرز ندبی بـخته!    که دي مال که‌دی فرزند دی نا یکـا ر ه
دا جـل صیـا د طـلب د استـاد روح کـا    ته طلب د مـال اسبـا ب کړی نـا قرا ر ه
که دا پند د حنـان ونیسی په غور کښی    دی بهتر لـه هغه ګنجه بي شمـا ر ه
« مر ز ا حنان »

دیر به ستـا په سبب خواب دراحت و کـا    که دمهد په‌شـان ورك دځان ارا م کړ ی
« شیدا »

پنـد دی سـو دمن واو ره تـور زنـه    ا سـا نـه نـده د سـر بنـد نـه
مصلحت مـه پر پنږ ده د خپله لا سـه    هم بـه خپـل راز لـری د ز ړ ه د ننه
« خو شحال ختك »

همیشه‌وائي‌چه خدای مي‌پیتږ ندلی‌په‌یکی‌دی    که دی خدای‌وی پیتږ ندلی‌مینه مکره‌په باطله
په‌خپل‌حسن غره‌مه‌شه که‌په‌حسن‌لکه ګل‌شی    زمانه به‌دی خبره په‌یوڅو ورځي کـا زائله
« خو شحال ختك »

د چا وخوا ن ته خـالی کتل مکره    که تل دی خوان خو ر ی منت په بل مکره
چه پری باور نـی هسی و یل مکره    چه ما ل د بل شی هسی بیـا تل مکره
( خوشحال ختك )

منجم که در تـه نحسه ا دینه کـا    یا طبیب و تا ته بـد ي کـا شکر ي
په جمعه به و نمـانځه و تـه و نوزي    له شکرو بـه هم ګـرزي اري لري
په قران کښي چه شراب‌دی‌منع‌شوی    ته یی واي لـکه پی‌ء دمور نغري !
« خوشحال ختك »

عاقبت به‌یی زده ترلاسه کړي حنانه!    لـکه زلفي دنـګـارتواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری بر بنده له تېرو تورو — هسې ځېل سر له بچېرو د سحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوډوی په باطن سپوروی — په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا — سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټک »

له همه واړه عالمه صلح کل شه — وښوېدو خوشبویی ور ځکه ګل شه

تعلق په تېرېدو و نی هوس مه کړه — په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټک »

څوك چه نرم وېل کا عمل یې ګوره — تېګان ام په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټك »

ښښتن مو مل دی — اوس مو پسر غل دی — هواد د بل دی

غازیانو ګوری — ښښتن مومل دی

توري تېري کړی — د ښن مو پرېکړی — منګلی سري کړی

خله بیه تښتو — ښښتن مومل دی

که تېنګه کړو زړونه — بیر بېر ی یو نه — چه زمری یو نه

اسلام راځخه دی — ښښتن مومل دی

غازیانو راشی — تول شاؤ خوا شی — دشهاب په ملا شی

دښن موغوځ کی — ښښتن مومل دی

« شیخ ملکیار غرشېن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزبه رقم ویلی دی . »

--------•••◆◆◆◆•••--------

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ١ـ مېړانه او توره:

مرد به نه شي په ګفتار — خو پیدا نه کړي کردار
چه دې وښکنځي مرد نه یي — که له تا نه وي په دار
چه څه دې خو انتقام دی — د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لرینه — چه نه عیب وي نه یي عار
چه عزت ورڅخه نه وي — هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر — ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو ځوانانو ځار
مرد به غم دخپل عزت کا — نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم — د عزت د اعتبار
نامرد فخر په نسبت کا — مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې ګوره — لعل و در پیېي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه — چه یا د پېغلې په بدلو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي — چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو — په نامرد، شرم آسان دی په مرد ګران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي — که د سروبره دي نه شي کار آسان دی
کاشکې ته په دا دنیا همېشه پایې — په احتیاط احتیاط کښې ډېر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامې ډېر دي — ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی
ننګیالی چه د اخلاص توره په لاس کا — ډېر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریک دي اولسونه — غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دي نه شي باندې بوره — چه مېړو نه د کارزار دی
څوک چه شته تر شرقه غره به — د توروزنو خدمتګار دی

«خوشحال خټک»

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه — سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسې وخت، چه وخت د نام وننګ دی — دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي — بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي — که پوهه پښتانه واي څه هوښیار!
[illegible]

«خوشحال خټک»

مېړنو له تېښتې شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماړوه جلب
« یونس »

څه سړی څه یې تدبیر !
که جهان شي تیر توره
بې تقدیره به و نه مري
بې اجله مرګی نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل ګټنه ده د توري
مړنی دی چه یاد پښتو ی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو پېړیو پوری
دا د ځان ستاینه نه ده

هم هغه شي چه تقدیر
ستا به مرګ شي خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و په مکره تقصیر
هسې کار نه دی د پیر
پر وا نشته د سمبیر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم د لنګیر
کال به کال خلق خبیر
وا په مړه په تیغ و تیر
حقیقت وایم په ځبر
« خوشحال خټك »

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده
که وجوددې څوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال خټك »

چه مین په وسله نه وی
لاس دي سره کا ستر کې توری
مرد دی نه وائی خپل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټك »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځکښې
ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی
چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بفر ګ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټك »

د بلا نه د اختیار توره په لاس کښې
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم
په سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
« خوشحال خټك »

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی
دا د واړه تو کسی سره تړلی دی
چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
څوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټك »

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی
دا کا رمې خوځله به ځان را غلی
چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی
له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا رقیب کله زما په مخ راتلای شي

چه زړی شي میاشت آخره شپه را خېژي
ښې ورېښمني جامې خوی د اژدېړو دی
له یارانو اخلاص تلل دې حنا نه !

د میدان په ورځ چه ښېته کا له جنګه
له میدانه ښېته کار دی د زنانو
چه د تورو په بر ښېنا یې وار خطا شي
د ضرور په ورځ به ښېته له ګیدړ کا
د عزت صدقه سر د سر د نیا دهٔ .

دمړو و جنګ ته نه د رومي عورتي
« مرزا حنان »

پټوه ځان له عالمه په افلاس کښې
دمېړه مړانه نه ځي په کرباس کښې
ګذران د زمانې شو په لباس کښې
«میرزا حنان»

یا تې هیڅ نشي باقي له نام و ننګه
مرد به نه تښتي له غشي له تفنګه
مور یې مه وای په هغه غولا تې انګه
چه همېش کاندي خوښي له ناي وچنګه
مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دی که غلجي که ابدالي دي
چه عمل یې د نېکۍ وي مېړه هغه

ښه هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
که اغوستې یې ګډله د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالي دي ور ته اېښې دي دوه کاره

یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مېنه سپېرېږي
«خوشحال خټک»

چه د ننګ به چارو نږ ندي خوشحال له !

که یې نږ وینې په ستر ګو هم ماده دي
«خوشحال خټک»

کاشکي ځوان دېښتانه په ننګ کښې مړوي
چه دقام به ننګ کښې ومړ هغه ځو یه

نه چه ګور لره روان شوم له تلتکه
په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ به مارا غلي نه دي
چه ښور وا خوري دمغلو وادهٔ سپي دي
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور ودم

پښتانه نه پر دي په غرونه په سمو نه
د سګانو به خو له څه اخلم نو مو نه
زهٔ خوشحال د زړه دا هو مړه املو نه
« خوشحال خټک »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشي

و به نه ساتي څوك خپل ننګ و ناموس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شي
د ګلر خو په هوس شپې ر نو مه
تلخ ویل پر رقیب څو کوي وما ته

په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
امو خته لکه شبنم په دا شبخون یم
آخر زه شمس الدین ننګے ارم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلی له غلـمه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یی نشته

مرد نه خوب کا نه خواډه کانه آرام
د هغه سری به نه وی احترام
« خوشحال خټـك »

نام وننګ افغانی می ولاړ بر هم شو

انصاف نشته د خوبانو به بازار کښې
« عبدالله یوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی

حال یی ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره

یا به وخوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټـك »

ننګیالی د ننګـد د یاره
سر به باد د سری پر ـو زه
چه په نام و ننګ اړ نه وی
د جهان بـلا دې کل وی

په هر خه لګوی اور
چه یی نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ تی تور
خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټك »

سر په دار لاك شوی ښه دی
نه لـك شوی به پیغور

۳ ــ ټینګـښتیا

قول و بول په ژوند.ون نشی بد لولی

ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مر د عشق به جهل کړم ناصحه!

وا به نودم زه حمید هسی پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

د دنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما خه یی اعتقاد د عقیده ده

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ»

د مرد چه نه وی وینا محکمه
چه یوی ز ده وی بـو مه خبره

په ده به نه شی در غلـه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټـك»

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده
لذت دور کړي تر ساتل دهر دی

را ته یی ووې زما فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر خټك»

دلو یی به مقام به ها له کښېښې

که د ور کړې دمړانې په وزرځې
«عبدالقادر خټـك»

(۱) ویی : لفظ ، کلمه .

د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی
چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر خټک »

تو اول کښېوول دزرو ښځې کاندي
ور کول بازل بی خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر خټک»

چه شجاعت کا دنیا په کف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خوی په
نوم به دنیکو په هر طرف لری
هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر خټک »

که څوا نمردی بل آزار مکړه په گټو
ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر خټک»

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه
چه تو ره لری د تور ي خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی
چه احسان تري پیدا کیږی کان هغه
چه نی ته په گیره وخوري حیطه شی
د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لېچو
چه نی توان دچا پکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښی
چه د خدا ی په یادو در ومی آن هغه
چه دخوك دوړ اندی روستوځی داخه شی
په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله !
چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان خټك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن
غگ نی تلملی دي ودی دی تریو نان
هسی شه مېما ن نوا زه خلك نشته
لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهر در ته مرزی شی خوپه کور کښی
له ادبه ځان میر نی کړی تا به خا ن
ده رچا ځای له چه ور شي بي تکلیفه
کت پو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

۵ ــ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را غلم
ماد هسي د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیږ ی
په وار وارچه ځني لاړ شی و سنېخړی
« خوشحال خټك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم
خوار هغه چه نی له ما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده
چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه نی ما غزه په قرار ندی
چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښی نی گولی دی
که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښی په لرزه پرېوزی له کټه
چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو ري هغه زه یم
چه مي داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ
ځای په ځای نی پښتانه وته قلنگ دی
ځنی څه اویه دعوی لرم په زړه کښی
ولي څه کړم چه پښتون واړه بی ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال نند اره وکړه

ګڼه تېر تر فريدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دپاچه کښېنې هم ملنګ دی
« خوشحال خټك »

چه زما د در ويږي په کچکول تحير شي

دحاتم په زړه به سهم د سوال پريوت
« عبد الحميد مهمند »

هسې ر نګ له دې ما لمه تنها خوښ يم
تر هغه چه خشـك طبيعت د صحرا و يـنم
چه شا ډ ه بی له اقمې و زی مګس شي
چه په شان د آفتاب نـد ه ګرم رو يـه
چه په قيد يې د قفس کړم لکه زر که
که پيدا ر لکه تصو ير له خوا به نه شو

چه مد ام لکه وحشي په صحرا خو ښ يم
لکه موج او ار ه يـه دريا خو ښ يم
کله زه د هغه خو ان په صلا خو ښ يم
ستا په سر که په سا يـه د هما خو ښ يم
تر دا هسې خند ا ز ه په ژ ړا خوښ يم
په دا حال له خپله بخته شيد ا ! خو ښ يم
« شيدا خټك »

جهـا ن شر م نـا م و ننـګ دی
چـه و فـا و ر ځه نشته
چـه يـې عشـق تـر سر ه کړ ی
يـه بنا فليـو جـهـا ن ا رت دی
چه خو شحـال با ندې نا ستی کا

که دا نـه وی جهـان رنـګ دی
ګل به څه کړي چه خوشر نګ دی
نـور خو ك نشته خو پتنـګ دی
په غـو و ليـو با ند ی تـنګ د ی
د ا بو زی نـد ی ا و رنګ د ی
« خو شحـال خټك »

ا کوړی ، يحيی ، شهباز واړه سره زر وو
ا کوړی ، يحيی ، شهباز وا ړه زمری وو

په خپل دور واړ ه و بـه تـېر کړ خپل وار
ز ه هـم نـه يم د ګـيدړ و يـه قـطا ر
« خوشحال خټك »

د حا تم غونـد ې مې خپل و حشم نشته
سخا وت مې په تـقليد په رسـم نـد ی
په و ګړ ی مې خبـر ي د مر دی شتـه

يـه عطا کښې لـه حا تمه برا بر يـم
زه لـه حا يـه د سخـی بـا بـا پسر يـم
په همت کښې به هر لو ر ی نـا مو ر يـم
« خو شحال خټك »

هر چه کاندی نوکري د باد شا ها نـو

خا مخا بـه د د ربا نـو منت با رو ښي
« عبد ا لرحمان مهمند »

مطيع الله له موره پلا ره هم سوال مکړه

سل بلا شر منـد ګی د ی يـه سوا ل کښې
« مطيع ا لله پير خيل »

در و يږ ه له در و يږه ګرو نا کسی ده
چه رښتيني سيده صاف نه وی حميد ه !

د فلك کچکو ل ته مـه ګـوره ، کچکو ل
بـو لی بـو لی عا فلا ن د ا هسی بـو ل
« عبدالحميد مهمند »

هسی فخر شمس الدين کاندی په عشق کښې

لکـه فخر کړ ی پښتـو ن په خپـل نسب
« شمس الدين کاکړ »

دروغ ويل هغه کاچه يې ويره وی يا طمع

خوشحال په دا اړ نه دی حق به وايي خو يي سرشته
« خوشحال خټك »

روهي کټلوګ (۵۰۲۰) مهتمم سردار محمد : ح : سراج الدين : ر : محمد امين ن : رجب علي : م : اجرائيه پښتو ټولنه ۲۶-۲-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**